کابل

مدیر : محمد قدیر « تره کی »
ادرس : پښتو ټولنه، د « ابن سینا » واټ
تلگرافی عنوان : کابل ، انجمن
ټوله لیکونه و ع،ص عبدالحی خان حبیبی
د پښتو ټولنی عمومی مدیر او د مطبوعاتو
د ریاست معاون ته کېږی .

کابل

(میاشتنۍ مصوره مجلهٔ)
(ادبی ، اجتماعی تاریخی)
د پښتو ټولنی د صحافت له څانگی
څخه خپرېږی

اشتراک
کابل : ۱۲ افغانی
دننه مېنه ۱٤ «
دباندی نیم انگلیسی پوند
دلوستځیو لوستونکو ته نیم قیمت

۱۱ کال . . . . ثور دمیاشتی ۱۳۲۰ - اپریل ۱۹٤۱ ع ؛ (۲) گڼه

د دې گڼې لیکونه

لیك	لیکونکی	مخ
ریشهٔ کلمهٔ آرین درپښتو	ښاغلی « حبیبی »	۱
په ځان ویسا	« « الفت »	٤
محبت وطن فطری است	« « هاشمی »	٥
دخپلی وظیفی پیژاندل	« سلطان محمد خان	۹
اتل یانابغه	د « عزیزالرحمن خان ترجمه	۱۱
نوی پسرلی	« محمدنسیم خان « نوری »	۱٤
غزل	« عبدالرزاق خان « فراهی »	۱٥
مینه	« محمد گل خان « نوری »	«
غزل	« عبدالمنان خان	«
دشکر ناره	« محمدابراهیم خان	۱٦
لنډۍ	« سعدالله خان	«
غزل	« عثمان خان « صدقی »	۱۷
پر پروانه	« « آئینه »	«
غزل	« « شفق »	«
ته لمرمخی یی	دښاغلی « گړندی » ترجمه	۱۸
مه لیکه	« « « حبیبی » «	«
دعسکرو وروستۍ وینا	« « « پردېس » «	«
ښه مرگ	« « « « «	«
مرگی	« « « « «	«
مور	« « حبیبی » «	۲۱
سراب	« « بینوا » «	«
عشق وابدیت	ترجمه « « وساه »	۲۲
دپښتو دژوند درې زېری	« « کشککی »	۲۳
دپښتو معنوی ښایست	« « رشتین »	۲٦
کابل او ویوونکی ئی	« « حبیبی »	۲۹
ښاغلی	« « بینوا »	۳۰
بېروونکی پېښی	« « ایازی » ترجمه	۳۱
تابلوی عبرت	« محمد علیخان	۳٥
یونس	« « بینوا »	۳۷
افتتاح رادیو	« « تره کی »	۳۹
روز نامهٔ انیس وغیره	« «	٤۰
فکاهیات	مقابل	«
تصاویر		مخ
والا حضرت وزیر صاحب معارف بروز افتتاح رادیو (۲) قطعه	«	۲۳،۲۲
جلالتمآب رئیس صاحب مستقل مطبوعات	«	۲٤
از مناظر شکوفه بهار (۳) قطعه		
از موالید عجیبه	«	۳۷

KABOUL

Revue mensuelle scientifique,historique, littéraire, publiée par la section des publications et de la presse de l'Académie Afghane.

Abonnements :	ville de Kaboul	1 an	12 afgs.
	Provinces d'Afghanistan	«	14 «
	Etranger	«	10 S

No. 122 April

اعلانات

سالنامه‌های کابل

۱	سالنامه سال اول سنه ۱۳۱۱	در کابل	۳ونیم	افغانی در ولایات	٤ افغانی	در خارج سه کلدار
۲	« « دوم سنه ۱٤۱۲	«	٦ «	«	۷	ده شلنگ
۳	« « سوم سنه ۱۲۱۳	«	٥ونیم«	«	٦ونیم «	«
٤	« « چهارم سنه ۱۳۱٤	«	٦	«	٦ «	«
٥	« « پنجم « ۱۳۱٥	«	٤	«	٤ونیم «	«
٦	« « ششم « ۱۳۱٦	«	۱۰	«	۱۲ «	«
۷	« « هفتم « ۱۳۱۷	«	۱۸	«	۲۱ «	«

کلکسیون های مجلهٔ کابل

کلکسیون‌های سال‌اول ودوم وسوم فی‌جلد در کابل ۱٤، درولایات ۱٦ افغانی‌درخارج ده‌شلنگ

٦ کلکسیون های سال چهارم وپنجم وششم مجلهٔ کابل یکدورهٔ آن در دوجلد قیمت آن در کابل ۱۷ افغانی، در ولایات ۱۸ افغانی، در خارج ده شلنگ.

کتبیکه در انجمن برای فروش حاضر است

۱-	شرح حال سید جمال‌الدین افغان	در کابل		۷٥ پول
۲-	منتخبات بوستان	« «	۲ افغانی	۳٦ پول
۳-	آثار بودائی بامیان	« «	۳ «	۲٥ «
٤-	سخندان فارس	« «	۳ «	
٥-	شعرالعجم	« «	۲ «	
٦-	آثار عتیقهٔ کوتل خیرخانه	« «	۱ «	
۷-	صنعت باختر (بفارسی وفرانسه)	« «	۱ «	
۸-	فضیلت	« «	۲ «	
۹-	مسکوکات قدیم افغانستان	« «		۷۰ پول
۱۰-	خواطر قهرمان کبیر	« «	۱ «	٤۰ «
۱۱-	د کچنیانو اخلاقی پالنه	« «	۱ «	
۱۲-	بگرام	« «	۱ «	۱۰ «
۱۳-	نیکبختی	« «	۱ «	٦ «
۱٤-	د پښتولیك ښوونکی	« «	۲ «	
۱٥-	پښتو مثلونه	« «	۱ «	۲۲ «
۱٦-	امپراطوری کوشان	« «		۹۰ «
۱۷-	پښتو ازنقطه نظر فقه اللغه	« «		۸۰ «

شکوفه

ریشهٔ کلمهٔ آرین در پشتو

بناغلی عبدالحی خان « حبیبی »

مدتی است در مطبوعات و تدقیقات تاریخی فضلای وطن کلمهٔ آرین وآریانا دیده می‌شود ، وازروی اسناد محکم تاریخی سرزمین وطن عزیز ما گهوارهٔ تمدن آریائی شمرده شده ، وعلماء این نظریه را تائید کرده اند .

اما درینکه خود کلمهٔ (آریانا) درزبان و ادبیات پښتو ، ریشهٔ دارد ، بحثی بمیان نیامده ، وشاید بعضی ها آنرا کلمهٔ اجنبی پنداشته باشند .

درسطور ذیل میخواهم ریشهٔ کلمهٔ آرین رادرزبان وادب پښتو نشان دهم ، چون آریائی ها ازباختر بطرف جنوب مملکت وهم به ممالك دور دست متفرق شده اند ، بنابران باید این نام را ازین سرزمین با خود برده ، و درزبان ما دارای ریشهٔ باشد .

از روی تحقیقات فقه اللغه به ثبوت میرسد ، که زبان پښتو به لسان مرکزی آریائی که بقول دوکتور گوستاولوبون شاید (آریك) نامداشت (۱) نزدیکی زیادی دارد ، و با السنهٔ باستانی اوستا وسانسکریت نیز بسی از کلمات ولغات زنده وموجودهٔ آن مشترك است ، که مادرمقالات گذشته مختصراً به آن اشارت کرده ایم.

مورخین محقق قرن اخیر که استناد آنها عموما به اساسهای محکم تاریخی است گویند ، همان تودهٔ انسانهائی که تقریبا درحدود سه هزار سال پیشتر ازحوضه های جنوب اوکسس به شرق و غرب هجرت کرده ومتفرق شده اند ، آنها خود را (آرین) یعنی اصیل وشریف میخواندند ، وباشندگان قدیم هندرا که در نتیجهٔ محاربات ازطرف آریائی ها رانده شده اند ، بنام داسو ، یادیسیو میگفتند که این هردو کلمه درکتاب رگویدا Rig Vida ذکر یافته (۲) دوکتور د بلیو هنتر مورخ هند قدیم می نویسد که آرین ها خود را اصیل ونجیب می پنداشتند ، و دیسیو یادشت را بمعنی (دشمن) برهمان اقوامی اطلاق میکردند ، که از عرق آریا نبوده وسکنهٔ قدیم هند محسوب می شدند (۳)

ویدا حکایت میکند که آرین‌ها مدتهای زیادی بادیسیو محاربه هاداشته ، ودرمناجاتهای ویداهمواره ازخدا تباهی دیسیو خواسته شده است (٤) کلمهٔ آرین همانطوریکه درکتاب آریانی های هندی رگویدا آمده ، ومصطلح بودن آن نزد آنها ثابت است (٥) کتاب آریانی های باختری یعنی اوستا Avesta هم گوید که خداوند سرزمین آرین ، وتخمه ونژاد آرین را آفرید (٦)

همچنان طوریکه درمقالات گذشتهٔ ماذکر رفت ، اوستامسکن و موطن آریانی ها را (آرین ویجه) می‌گوید ، که شانزده کشور این سرزمین را نام برده ، وآنراسرزمین خوش آب وهوا ، وحاصل خیزی می شمارد .

علاوه برکتب قدیمه ، سنگ نبشته های باستانی نیز نام (آرین) را حفظ کرده ، چنانچه داریوش

---

(۱) تاریخ تمدن هند

(۲) تاریخ هند قدیم ، ایم ، پانیکار ج ۱ ص ٤

(۳) تاریخ مردمان قدیم هند

(٤) رگویدا ج ۳ ـ ۲۰۷

(٥) رگویدا ج ۳ ـ ۲۰۷

(٦) یشت فصل۹ فقره ۹ ، فصل ۱۰ فقره ۱۳،٤ـ فصل ۱۳ فقره ۸

درنوشته های نقش رستم بنددوم خودرا آریانی وازنژاد آریانی نوشته است(۱)راجع به کلمهٔ (ویجه) که تاکنون درپښتو زنده ومستعمل است ، در شمارهٔ گذشته شرحی داده ام ، ولی کلمه دیسیو که کتب قدیمه آنرا مقابل آرین می آورد ، بلاشك صورت مستعمل وزندهٔ آن همین (دښمن) بمعنی خصم است ، که درادب پښتو شکل قدیم آن (دښن) وجمع آن (دښنه) بوده ، و قدمای ما آنرا درزبان باستانی زیاده تر میگفته اند ، مثلا دریکی ازنسخ کهنهٔ ادب زبان ملی ماتذکرهٔ سلیمان ماکو ، که بعداز (۶۱۲ه) درارغسان (ارا کوسیا) قندهار نگاشته آمد، دراشعار یکی ازسرایندگان باستانی پښتو (شیخ ملکیار) این کلمه چنین آمده :

تو ر ی تېر ې کړی

د ښن مو پرې کړی

منگلی سر ې کړی

نگارندگان مابعد چون اخوند درویزه و شعرای معاصرش درحدود سال هزارم هجری نیز این کلمه را (دښن) نوشته اند ، مثلا خوشحان خان خټك گوید :

چه د ښنه ئې داولاد او داصحاب وی

په و کښنه ئې د بیخ او د تبا ریم

په دښنو کښ چه دجنگوخر خښې وی

ته بې غمه خپل هوس کړه خپل ښکار ونه

اما کلمهٔ آرین که در کتب ونبشته های کهنه آمده ، مؤرخین قدیم چون هیرو دوت و ستر ابون نیز (ارینه) ضبط کرده اند (۲) که مقصد ماهم درین مقاله توضیح وشرح ریشه وبن آنست درزبان پښتو .

مدققین اروپا که در اطراف این کلمه چیزی نگاشته اند ، یکی از آنها محقق معروف دوکتور ویلهلم جیگر المانی است ، که بقول وی کلمه آرین مشتق از (آر) است که بزبان سانسکریت بمعنی اصلی است پس (آریا) اصیل را گویند ، که بعدها شریف ونجیب وپارسا راهم گفتند (۳)

درزبان پښتو تاکنون کلمهٔ (آره) بمعنی بنیاد واصل نزد بعضی قبایل زنده ومستعمل بوده ، واز کلمات خوب قاموس پښتو است .

این کلمه درادب پښتوهم زیاد مستعمل ، وبه استناد استعمال ادبی ، بمعنی اصل وبنیاد ، ریشهٔ محکمی دارد ، که درسطور ذیل خلاصه میگردد .

یکی از ادبای پښتو اکبر زمینداوری که معاصر است باتیمورلنگ ، ودرحدود(۶۰۰ه) میزیسته گوید(٤)

دغم آره ئې شوه ټینگه زماپه زړه کښ

د رقیب سره خندا کړی هوسېږی

بعدازان ادیب دیگر پښتو ، ملا الف هوتك که در (۱۰۱۹ه) کتاب بحر الایمان را منظوم فرمود ، گفته است :

دی له آره وښاغلی څه که شوپه ویرنتلی

باین طور کلمهٔ آره درادب ومحاورهٔ پښتو موجود و مستعمل بوده ، وبه قول دکتور ویلهلم جیگر المانی موافقت میرساند ، وعلاوه بران باقواعد و اصول اساسی گرامری پښتو هم مطابقت دارد .

باین طور : کسانیکه درگرامر پښتو معلومات دارند می دانند که یکی از ادات نسبت که مطرداً درمواقع نسبت پښتو می آید ، همانا (ین) است ، که در اواخر کلمات ملحق و کار نسبت را میدهد ، مثلا ژړ (برنج) ژړین (برنجی) واگر درآخر کلمه (ه) باشد می افتد مثلا خاوره (خاك) خاورین (خاکی)

برین قیاس اگراز آره (اصل وبنیاد) آرین(اصیل) ساخته شده باشد بعید نیست . علاوه برین کلمهٔ (آره) درپښتو بمعنی که زراعت وکشاورزی وبرزیگری را افاده کند نیز آمده ، درقندهار بصورت یك مثل یا محاوره میگویند (آره آره لورپرغاړه) این جمله حالت دهاقین وکشاورزان را تصویر میکند ، که نخست کشت و زراعت را کرده ، وبعدها ذریعهٔ لور (داس) آنرا درومیکنند .

ناگفته نماند که برخی از مدققین و مؤرخین مانند

---

(۱) کتاب خطوط میخی ویسباخ

(۲) هیرو دوت ج ۷ ص ۶۲

(۳) تمدن آریانان شرقی ج ۱ ص ۶۵

(٤) اوراق قلمی اشعار اکبر

هنتر ومیکس مولر گفته اند که آریا مشتق است ازمصدر (آر) که درسانسکریت قدیم معنی کشاورزی و زراعت را میداد ، پس آریا یعنی کشاورز و زارع .

به عقیدهٔ من نظریهٔ اولین دوکتور جیگر المانی ، بانظریات اخیر تطبیق شده می‌تواند ، شاید مطابق به نظریهٔ جیگر ، آرین اصلا بمعنی اصیل و شریف و نجیب باشد ، وبعدها برزارع ودهقان که به عقیدهٔ آریانی های باستانی ، پیشه وشغل شریف و مفیدی داشت اطلاق شده باشد .

زیرا درکتب رگویدا واوستا بکثرت دیده می‌شود، که آریانی های نخستین زراعت وکشاورزی راپیشه های خیلی شریف می‌شمردند ، درویدا وارد است که « انسان دانشمند ، و باخرد همواره بایوغ و زراعت سرو کار دارد(۱) » دراوستا هم مقام زراعت خیلی شریف شمرده شده ، وزرتشت مردمان رابه زراعت وپروراندن ستوران پند میدهد (۲)

دریکی از سرود های گاته طبقهٔ برزیگران (که در پنبو برگران گوئیم) درردیف شریف ترین طبقات ذکر، وبعدازان به‌پروراندن ستوران چنین تشویق شده: « کسیکه دوستار راستی را خرم خواهد چه ازپیشوایان، چه از شرفاء و برزیگران ، کسیکه باغیرت از ستوران پرستاری کند چنین کسی روزی در بوستان . . . . بسر برد (۳) »

باین طور وظیفهٔ زراعت دربین آریانی های قدیم مهمترین وشریفترین وظایف بوده ، وکشاورز و زارع را شریف ونجیب ونجیب را زارع می‌شمردند .

پس اصالت ونجابت با زراعت و کشاورزی لازم بوده وشاید پسانها هرزارع را آرین یا آریه گفته باشند.

چون قرار متن کتب دینیه ، به زارع مقام شریف و بلندی داده شده ، و آریانها هم به تقاضای اوامر پیشوایان خود ، به زراعت و کشتکاری توجه داشتند ، پس این تطور لغوی ، که آرین یعنی اصیل و شریف را به زارع گفته اند ، نتیجهٔ روح زراعتی آریانی های قدیم میدانیم ، واینچنین تحولات ومجازهای لغوی در زبان های ما خیلی زیاد است .

پس آرین وآریه مشتق است از(آره) که تا کنون درپښتو بهمان دو مفهوم باستانی موجود ومستعمل است ، وشاید مفهوم زراعت آن به وجه اهمیت مقام ، مجازبوده، وحقیقت آن همان اصل وبنیاد باشد ، که شرح آن دربالا گذشت .

این بود تدقیقات من راجع به ریشه وبن کلمهٔ آرین در زبان پښتو، که در ین مقالت نگارش آمد ، و شاید این موضوع را کاوش های ما بعد خوبتر روشن و مدلل سازد.

(۱ یجروید فصل ۱۲ ـ فقره ۶۷ ـ ۶۹ ـ ۷۰

(۲) گاته (سرود های زرتشت) ص ۹۸

(۳) گاته ـ یسنا ۳۳ ـ فقره ۳

اجتماعیات

په ځان و یسا

کل پاچاالفت

شپه ده او د اسمان ځلېد ونکی ستوری در گرده ستر گکونه وهی ، زه پورته پاس په اسمان کښ دسپوږمۍ اوستورو ننداره کوم ، یوبل هلك چه دیوه لوی ډنډ په غاړه ناست دې هماغه سپوږمۍ اور ېږدېدونکی ستوری په رنړو اوبو کښ ډېر ښکته دځمکی په تل کښ وینی .

وگوری ! د انسانانونظر خومره توپیرلری چه یوشی په یوه وخت کښ خوك پاس پخپل سروینی او خوك ئې تیټ په مځکه کښ مومی .

همدغه یوه رناده چه هم پورته په اسمان کښ اوهم ښکته په مځکه کښ ترسترگو کېږی .

نه همدغه یوشین ډنډ دی چه هم پاس په سرولاړدی او هم له پښو لاندې لیدل کېږی - مگر که سړی لږخه دشپږوخواوله قید ځنی خلاص شی ، یعنی د خپلو اعتباراتو له دایرې ځنی بهرشی ، نوبیاد حقیقت په فضا کښ لوری اولودن ورځنی ورکېږی ، اوخپل ځان هم ورکوی . نو انسان تل دخپلو اعتبارا تو په نړۍ کښ ژوند کوی او هرڅه په هغه جامه کښ وینی چه دی ئی ورا غوندی .

هو ! د دنیا ټیټوالی او پورته والی زموږ سترگو او اعتبار پیدا کړی دی او دا سره اوشنه رنگونه زموږ ددووسترگو مواود گڼل کېږی .

که زموږاعتباراوگڼل څه قیمت ونلری ، سره اوسپین، زړاوگلټ هیڅ توپیر نلری .

موږ ته خپل گمان بعضی واړه شیان غټوی او بعضی غټ شیان راته واړه ښکاره کوی . د هر کار گرانتیا او آسانتیازموږ په لاس کښ ده ، او دهر شی قیمت او اهمیت زموږ په اعتبار او گڼلو پوری اړه لری . همدغه زموږگڼل اواعتبار په هرڅه کښ تاثیر کوی ، او په دنیا کښ نوی دودونه او ذهنیتونه پیدا کوی .

همدغه شی دی چه کله انسان له یومو هوم شکل ځنی وېروی ، او کله ئې دتوپ خولې ته دحملې دپاره تیاروی .

د انسان گمان اواعتبار یوداسی طلسم دی چه کدی ئې پخپله مات نکړی هیڅوك ئې نشی ماتولی .

نوهرقام اوهرملت ترهغه وخته پوری غښتلی اولوړوی چه پخپل ځان ویسا او اعتماد لری ، او هر کله چه دوی خپل ځان ضعیف وگڼی ، نوبیائې هیڅکله پښې نه ټینگېږی اونه د سیالۍ په میدان کښ پخپلو پښو در یدلی شی .

همدغه سبب دی چه د یوه ملت پوه او پیاوړی واکداران خپل ملت ته د غرورملی او اعتماد بنفس تلقین کوی یا په بل عبارت قوی زړه پکښ پیدا کوی چه بعضی ورځنی په خودۍ سره تعبیر کوی .

محبت وطن فطری است

بناغلی سید احمد شاه خان « هاشمی »

کلمهٔ وطن بیك قطعه از صفحهٔ زمین دلالت میکند که دران یك جماعهٔ بشر بنام ملت ، زیست و زندگانی می نماید وچنانچه دریك شهر وقریه ، هرخانه بنام صاحب آن شناخته ومعروف می گردد . همچنان این قطعهٔ خاك بنام همان جماعت بشریه که دران سکونت اختیار نموده است ؛ یاد وشناخته میشود ؛ مثلاً افغانستان ؛ یعنی سرزمینکه نژاد افغان دران زندگانی می نماید ؛ جرمنی وانگلستان ؛ یعنی قطعات زمینکه ملت جرمن وانگلیس دران امرار حیات دارند ؛ وهکذا سائر قطعات زمین که جماعات انسانی گروه گروه ؛ برای سکونت خویش اختیار کرده اند .

محبت این قطعات خاك که برای هریك از جماعات بشر یعنی ملت ها وطن گفته میشود ؛ به اندازهٔ شدید است که نمی توان برای آن مثالی آورد ؛ زیراشیرین ترین چیزیکه انسان از همه بآن علاقه ومحبت دارد ؛ حیات وزندگانی شخصی وبعد ازان حیات اولاد وفرزند است که هرفردی در مقابل حیات خود وحیات اولاد خود از تمام هستی ودارائی ومایملك دنیائی تیرمیشود ؛ وزندگانی خود واولاد خود را که درتهلکه می افتد نجات میدهد ؛ امادیده میشود وقتیکه وطن او درخطر می افتد ؛ این حیات بسیار شیرین وزندگانی عزیز خود واولاد خود را قربان نموده بایك حس افتخار ابدی در راه دفاع وطن؛ خون خود را میریزد وزندگانی را بقدر ذره هم اعتبار واهمیت نمی دهد .

وقتیکه انسان فکر میکند ، تمام جماعات بشریت از هرنژادیکه باشد ، بدون تفاوت ازیك مبدء نشئت کرده اند وهمه انسان گفته میشوند، به این سودامی افتد که نوع بشر تماماً بمنزلهٔ یك فامیل است وروی زمین هم مسکن و وطن او میباشد ؛ باید صفحهٔ زمین را عموماً وطن خود و عالم بشریت را تماماً نژاد خود دانسته همان محبتی را که نسبت به خاك وجامعهٔ خود دارد ؛ بآن ها نیز داشته باشد ، چنانچه شیخ سعدی میگوید :

بنی آدم اعضای یکدیگر اند
که درآفرینش زیك جوهر اند

گرچه حس نوعیت تا اندازهٔ در وجود هر انسان یافت میشود که اگریك برادر نوع خودرا بحال فلاکت ودچار مصیبتی به بیند دل خون میگردد اما در مقابل وطن وجامعهٔ که بآن منسوب است ؛ به احساسات نوعیت وامثال آن اعتبار نمیدهد ؛ وبا همنوعان خود که بخاك وطن او تعرض مینمایند تاآخرین رمق حیات مقابله وخون ریزی می نماید ؛ اگربه ایجاب ضرورت چند مدتی ازخاك خود مسافر شده بوطن غیر میرود ؛ بزرگترین آرزووامیدش این است که به خاك خود برگردد وهوای آن را استنشاق کند ؛ وبرادران ملی خود را باز دیده دل شاد گردد . یکی از دوستانم که درجملهٔ هیئت ورزش کاران افغانی دوسه سال پیش به خارج رفته سه چهار ماهی را گذشتانده بودند؛ برایم حکایه نمود : وقتیکه موتر سواری شان حین مراجعت سرحددکه را عبور کرده وارد خاك وطن شد ، موتر را امرتوقف داده همگان پائین شدند ؛ وبامسرت وخوشنودی که از تعریف بیرون است خودرا بالباسها ودریشی بروی زمین انداخته به خاك مالیدند ، وسنگ هائی را که بدور وپیش افتاده بود دربغل گرفته بوسیدند وشکر خدارا بجاآورده از فرط خوشنودی قطرات سرشك را ازچشمانیکه بدیدار وطن روشن گردید سرازیر ساختند ؛ این حکایه در اثنای ایراد بهردوی ما اثر زیاد کرد وبه احساسات پرشور جوانان افغانی آفرین گفتیم وتمجید نمودیم .

آیا سر این محبت چیست ؟ بلی محبت وطن فطری است ؛ این محبت نه تنها در انسان بلکه در حیوانات وطیور هم موجود است . می بینید که یك گنجشك روزانه

برای آب ودانه سرگردان وهمینکه ازغم دانه فارغ شد پس به‌لانهٔ‌خود می‌آید؛ آیاچه چیز اوراوادار میگرداند.

که بازمنزل زده بهمان لانهٔ که اختیارنموده است پس بیاید؟ تنها محبت است که بالانهٔ خود دارد؛ وگرنه، میتواند شب ویا اوقات راحت را در همان لانهٔ مخصوص نی بلکه دریك شاخ درخت ویاجای دیگر بکه شعورش گوارا بداند؛ بگذراند؛ حیوان یك‌محیط اغلب در محیط دیگرحیات بسربرده نتوانسته جدائی ومفارقتش از محیط مألوف؛ سبب مرگش میشود چه باهوا و خصایص محیطی وطن‌خود پرورده‌شده وطبیعت‌او براساس‌آن بنایافته‌است.

هکذازندگانی انسان‌غیرازوطن مألوف‌دشواراست؛ وطن خانهٔ اجتماعی هرفرد ملت است؛ زیراملت ازقبائل تشکیل یافته است؛ وقبائل ازخاندان ها؛ وخاندان ها ازعائله‌هابوجود آمده‌است؛ پس‌اساس وموجودیت‌یك‌ملت عائله ها می باشد که‌هریك ازین عائله ها یك قطعهٔ‌خاکی را از سر زمین وطن برای گذاره وسکونت شخصی وعائلوی خود اختیار نموده است؛ انسان در وطنیکه زندگانی می کند گویا دوخانه‌را مالك است؛ یکی خانهٔ شخصی ویاعائلوی؛ که‌دران بهمراه پدر ومادر و فرزند ودیگر هیئت فامیلی خود زندگانی دارد؛ و دیگری خانهٔ اجتماعی ویاملی که عبارت ازتمام ساحهٔ وطن‌است.

ازانجا که زندگانی فردی وعائلوی در آغوش ملت یعنی دیگر عائله های هم نژاد که در صفحه وطن حیات بسرمی‌برند تأمین میگردد؛ وبدون جامعه چه از حیث عزت وشرافت؛ وچه از رهگذر حصول احتیاجات ولوازم‌حیاتی؛ امکان ندارد؛ یك‌شخص زندگانی‌نماید؛ وهیئت جامعه هم دروطن زیست و موجودیت دارد؛ لابد وطن‌را که خانهٔ ولی نعمت او یعنی‌ملت‌است؛ برتمام نعمت هائیکه از قبیل ثروت و مال وفرزند؛ از خاك مطهر او برایش حاصل می آید مقدم ومقدس می شمارد و برای حفاظت آن از شر دشمنان؛ خود و فرزند وهستی خود را فداوقربان می‌نماید وبرای آبادی و شادابی وارتقای آن؛ می کوشد؛ کار می کند؛ زحمت می کشد؛ تابرای رهایش وفراهم ساختن مواد حیاتی ملت بیشتر مستعد گردیده عناصر طبیعی آن در فعالیت خود برای ایجاد رزق بیفزاید؛ و ملت بیش‌تر آرام وآسوده گردد؛ تادرسایهٔ آن رفاهیت وآسوده حالی شخصی وعائله وی او هم حاصل شود. چه هراندازه که‌یك‌ملت آرام ومستریح گردد، حیات عائله‌وی نیزمسعود میشود.

چنانچه گفته‌شد؛ محبت وطن نوپیدانیست، بلکه‌ازبدو پیدایش‌باانسان توأم، بوجود آمده‌وتاآخرین رمق حیات باخون‌درعروق وشرائین دوران می کند وهرقدر نموی طبیعی شخص رو به تکامل میرود، این حس نیز کمال می‌یابد امابرعکس قوای مادی وطبیعی که بعد از دورهٔ کمال ضعیف میشود، محبت خاك وطن قایم‌تر و درفطرت راسخ‌تر میگردد، چنانچه مثال‌ها ونمونه های زیادی دردست است که‌بسا پدرها ومادرهای پیر و کهن‌سال که خودشان قوای فعالیت خویش‌را بمرورزمانه تسلیم وعاجز گردیده اند، همینکه وطن‌رادرخطر دیده اند؛ فرزندان رشید خودرا به شدت برای دفاع وطن مامور ساخته توصیه کرده اند که خودرا قربان کنندوبه‌بی ننگی‌زنده پس نگردند.

این حس شریف اغلب در طبقات عامهٔ ملت بقسم لاشعوری موجود وپوشیده میباشد که‌درحال امنیت وعدم خوف وخطر آن را حس نمی کنند، ولی همینکه بوطن خطری پیش میشود، چون مواد محترقه ولکانی در قلوب افراد شعب وقبائل منفجر می‌گردد، وتمام ملت را به‌یك ندای شدید باطنی درمقابل دشمن وطن می انگیزاند که ازطغیان این سیل باطنی جز منکوب ساختن دشمن هیچ چیزی نمیتواند؛ جلوگیری کند، اما ظهور آن در حال امن بسته به ارتقای فکری وترویج علم است؛ یعنی هراندازه افراد یك‌ملت عالم میشوند وفکر شان تکامل نموده روشن میگردد، این حس نیز بهمان پیمانه تازه وروشن شده نورآن از اعماق دل ها، در مظاهر مختلفهٔ می‌تابد ودر تمام اموریکه بوطن راجع باشد آثارخودرا هویدا میگرداند، مثلاً می‌بینیم اشخاص فاضل وتعلیم‌یافته درخدمت‌ترقی‌وتعالی‌وطن‌از زیردل‌می کوشند وبدون‌اینکه منتظرمکافات وآفرینی باشند، زحمت می کشند واززحمت کشی ورنج بری خویش به جای اینکه اظهار خستگی نمایند، لذت می یابند، ممنون میشوند، به خودمی بالند و هرخدمتی را که برای بهبود وطن انجام میدهند آتش

محبت‌شان تیزتر میشود وقوای فعالیت‌شان شدیدتر میگردد حالانکه درافراد عامه وجهال‌این‌حس وذوق‌را نمیتوان یافت واگر کاری هم می کنند فقط فائدهٔ شخصی خودرا زیرنظر دارند ، پس چه‌چیز است که دراشخاص دانشمند این ذوق را ایجاد میکند ؟ فقط دانش و نموی فکری انهاست که‌محبت وطن‌را دردل شان به یك صورت شعوری نیز بیدارساخته‌است‌طبیعی‌است انسان هرکس و هرچیزی راکه دوست دارد ، در خدمت و زحمت کشی برای آن ایستادگی می نماید وهر چندیکه این محبت شدید باشد ازحس خستگی وتعب می کاهد ؛

عللیکه محبت وطن را درطبیعت بیشتر ایجاد می کنند عبارت ازعلل طبیعی ذیل است .

۱ :ـ تاثیر طبیعی محیط ؛ که‌وجود انسان از عناصر طبیعیهٔ آن ترکیب یافته مطابق به خاصیت هوا وتاثیرات مخصوصهٔ آن نشو ونما می یابد ، وخصایص روحی انسان براساس این‌تاثیرات طبیعی بوجود آمده استوار میگردد که فطرتاً این خصایص روحی بطرف مبدء خود یعنی خاك وطن که‌بامتقضیات اوموافق است‌مایل‌ومجذوب میباشد .

۲ :ـ عمل‌توارث ؛ که‌انسان محبت وطن وملت را بقسم لاشعوری ازابا واجداد خودنسلاً بالنسل‌می‌یابد ، واغلب دراثر همین عمل ارثی‌است که یك‌نفر افغان اگر به امریکا ویادورترین یك‌مملکت دیگر مسافرت نموده وسال های زیادی ازوطن خود مهجور مانده است ودرهمانجا تاهل نموده صاحب اولاد وزندگانی میباشد ؛ خود را افغان میدانند وبه‌نام افغانیت افتخارمی کنند ومحبت وطن وملت‌را جز پنجهٔ مرگ هیچ چیزی نمیتواند از صفحهٔ خاطر او واولادش بزدایدا گرهرچندیکه درامورزندگانی مستریح وآسوده باشند ، به شنیدن نام افغانستان اشك حسرت می‌بارند ، وهمینکه یك‌برادر افغان خودرا می‌بینند پروانه وار بدورش میگردند وستایش می نمایند ،

۳:ـ زبان واعتیادات‌ملی : تاثیراتیکه زبان دریك‌ملت‌دارد زیاد است که‌درین‌جا نمیتوان همهٔ آن را استقرا وتذکار نمود. اما اختصاراً این‌قدرمی گوئیم که‌زبان بمنزلهٔ‌یك رشتهٔ خیلی قوی ومتین است که‌ملیون‌ها افراد یك‌ملت را خواه در آغوش جامعه وصحنهٔ وطن زیست می نمایند و خواه از خاك وطن وآغوش ملت دور افتاده دروطن و مملکت دیگری امرارحیات دارند ، بهم مربوط ساخته وحدت ویگانگی میدهد ویکی از اسباب بزرگ امتیاز یك ملت ازملت‌های غیرمیباشد چون افرادباهم برشتهٔ‌وحدت جامعه بسته‌شدومسکن این‌جامعه‌هم خاك وطن است طبیعی است که‌نمیتواند ازین رشتهٔ وحدت جدا گردد وفطرتاً محبتی را درضمیرخود احساس می‌نماید که مادم‌الحیات ضعف وزوال راقبول نمی کندهکذا عادات عامل بزرگی درایجاد محبت بوطن وملت شمرده میشود که‌از تفصیل آن صرف نظر می نمائیم .

٤ـوحدت واشتراك‌منافع‌اجتماعی ؛ وتاریخی ؛وعنعنات وشئون ملی ؛ این‌ها عواملی اندکه افکار وروحیات‌افراد پراگندهٔ‌یك ملت‌را به‌نقطهٔ واحدی‌متوجه ساخته وتمرکز میدهد که‌افراد ملت‌نمیتواند این‌نقطهٔ وحدت را جزدرملت ووطن‌خود؛ جای دیگر سراغ نمایند ؛ مثلاً من؛ وشما وهر فرد افغان میخواهد ملت افغان عالم ومترقی شود، وخاك افغانستان آباد وشاداب‌ومعمور گردد؛این آرزوی شیرین منفعت اجتماعی است‌که برای افراد ملت نصب‌العین یگانه ونقطهٔ واحدی‌است که‌افکارفردی‌را به‌خود جمع وتمرکز داده واز مجموع آن یك فکر واحد اجتماعی را بوجود آورده‌است. منبع‌این‌فکراجتماعی هم؛ چنانچه قبلاً اشاره شد؛ همانا فائدهٔ ذاتی ومنفعت عائلوی است که هر فردی از افراد وهر عائله‌ئی از عائله‌ها خوش بختی ؛ سعادت رفاهیت ؛ شرف ؛ وبالاخر تأمین حیات وبقای وجود خودرا درین‌دنیا که اساسش برتنازع گذاشته شده است ومعرکهٔ حیات گفته‌میشود؛ تنهادروطن مألوف ودرسایهٔ ملت محبوب خودمی پندارند؛ واین‌هم مسلم‌است چیزیکه حیات وسعادت انسان طبعاً بر اساس وشالودهٔ او بنا گردیده‌باشد محبت آن نیز برای انسان امرفطری است همچنین اثراشتراك تاریخی‌وعنعنات‌وشئون‌قومی‌را درایجاد محبت وطن قیاس باید کرد .

چون حس فطری وطنیت ؛ بهترین عامل قوی وموثریست که‌ملل‌هستی‌وموجودیت اجتماعی ؛ ووطن‌خودرا بوسیلهٔ آن میتوانند حفاظه کنند ؛ ازین‌حیث بوسایل مختلفی سعی وکوشش‌دارند که‌این حس‌شریف‌را درقلوب افراد خودزنده وبیدار سازند.

خوش‌بختانه ملت عزیزما افغان به‌حس وطنیت مشهور

ونوراین غریزهٔ مقدس نسبت به اکثرملل درقلوب افراد آن زنده بوده ومی تابد ؛ چنانچه درهر موقعیکه از طرف دشمنان به‌خاك مقدس شان تعرضی شده است مثلاً وقائع خارجیکه درخلال سنوات ۱۸۳۹ ، ۱۸۴۱ ، ۱۸۷۸ ع حادث‌شده (حس وطنیت خودرا به انتهای شدت وقوت که‌باعث امتیازشان ازاقوام همجوار گردیده است) بروز داده‌اندوخاك خودرا حفاظت نموده‌اند .

علامهٔ شکیب ارسلان؛ دریکی از آثار بر جستهٔ خود که‌وقائع فوق‌را شرح میدهد؛ راجع به‌حس وطنیت افغانها خیلی تمجیدنموده وملت افغانستان را یك نژاد حساسی میداند که‌درمقابل خاك‌وطن؛ حب زندگانی‌را بقدرپر کاهی نیزاهمیت واعتبار نداده بالب خندان بقربان گاه حاضر میشوند. واین‌حس شدید وطنیت‌را؛ قوی ترین عامل‌وجود ویگانه حافظ حریت واستقلال‌افغانها میداند که‌هیچ چیزی نخواهد توانست درمقابل آن‌تاب بیارد .

گرچه بشواهد تاریخی وتجارب به ثبوت رسیده و از طرف غیرتصدیق شده‌است که‌ملت افغان دروطن دوستی مشهور آفاق وسرآمد اکثریه ملل بوده بارها امتحان داده اند؛ واین حس فطری دردل پیر و جوان وذ کور واناث این‌ملت به پیمانهٔ خیلی وسیع موجود ودر موقعش فوران وانفجار میکند؛ بااین‌هم‌می‌باید زیادتر شعلهٔ آن را دامن‌زده بیفروزیم وبدانانیم که‌محبت وطن نه تنها برای رفاع و حفاظت آن از تعرض دشمنان است؛ بلکه برای ارتقاوتعالی آن هم بایستی بکار برده‌شود تامراحل مدنیت رابه‌سرعت وچالاکی به‌پیماید وبه‌اوج ترقی برسد .

گفتارهای سودمند

شخص سقوط کننده سقوط خود را قبل از ینکه احساس نماید در نگاه های توده می خواند .
(شکسپیر)

❀ ❀ ❀

اگر قاضی ازتو شاکی است خدا یاورو معاون تست . (مثل ترکی)

❀ ❀ ❀

بهترین مبصر وعمیق ترین متفکر درهمه حال قاضی عادل است .

تنها وفقط حاسدین منزوی بشر که‌بالای تاثرات خویش‌سینه میزنند همواره میل دارند اوصاف مذموم خویش را بلند برده وسجایای نیك دیگران را بد و خراب تلقی کنند . (بو کل)

(ترجمهٔ بناغلی محی‌الدین خان)

د خپلې وظیفې پېژاندل

ښاغلی سلطان محمد خان « تره کی »

لکه چه دهر خوځیدونکی او ژوندی سړی اندا مونه سر، پښې، ستر ګی. لاسونه. اوغوږونه، موظف په اجرا کولو دیو کار او وظیفې دی دغه رنګه هر فرد له افراد وخخه په ټوله نه کښې موظف په کولو دیوه معین او ټاکلی کار بلل کېږی ، اودا داجتماع په اصولو هم اثبات ته رسیدلی ده چه افراد په ټوله کښې لکه رګونه اونور اندامونه داډول اهمیت لری ، چه ددوی له ترکیب اویوځای والی خخه دټولنې اعضاء اوصورت جوړښت او فعالیت مونده کوی نو لکه یوژوندی چه له رګو او مختلفو اندامو خخه مرکب دی ، کهویوه رګ لایوه اندام ته ئی خه صدمه اوضرر ورسیږی نوداخر ګنده اوښکاره ده چه دهغه ګرده صورت به داصدمه اوضرر حس کړی او له هغه خخه به غمجن او اغیزه من سی همداډول ده ټوله او جامعه که یوسړی خپله ورسپالی سوی وظیفه په ښه توګه سرته نه ورسوی اولا په هغه کښې لټی و کړی اولا خیانت پکښې و کړی ، نوخر ګنده ده چه دهغه نقص اوضرر به پرټولی جامعی خپله اغیزه وښندی نوښائی چه هر فرد دجامعی دوجود دساتنی اوحتی دهغه وجود دپالنې او دوام دپاره په دقت سره خپله ورتا کلې سوی وظیفه اجرا کاندی هیڅ رازلټی اوخیانت نه پکښې و کړی اوتل ډیره مینه او محبت دهغه په کړو کښې خر ګند کړی په پخوا و ختو او تیرو سووزمانو کښې دافرادو په زړو کښې اجتماعی حسیات خورالږ وواو نه دهغو زمانو حکومتو اودولتو خپل ځانونه دعمومو و کړو په تربیه اوپالنې کښې موظف ګڼل نو ځکه دترقی اوپرمخ تګ خیالات ډېر ضعیفه او کمزوری وو، خوداوسنی عصر دو ګړو حسیات نسبت وتیرسوی عصرته بالکل پربل راز اوپربله توګه دی په دی ډول :-

چه داوسنی زمانی و ګړی دعلم دپراختوب په مرسته تل خپله ګټه اومفاد دنورو په نفع کښې پلټی اوهمیشه دټولنی په مفاد کښې دخپلې ګټې فکر کوی ، اودافکر مسلم هم دی. نو ځکه دنړی پوهانتل ددول ډول اختراعاتو وظائف پرځای کوی اوشپه وورځ دخپلې ټولنی دپاره زحمتونه ګالوی ، مثلاً دموټراورادیو اوالوتونکیو اختراع کول چه په نني عصر کښې دو ګړوله خوا اختراع سویدی له دغو خخه هم ګرده نړی فائده اخلی اوهم ئی مختر عین مستفید سوه، هر کله چه دهری جامعی وګړی داسی دجامعی دګټو حسیات ولری نووپوهیږه چه هغه جامعه لویه اوفعاله اوقدرمنه بلله کیږی اوتل به پرمخ اودترقی وخواته په خورا بیړه سره درومی . ددی دپاره چه دټولنی و ګړی دترقی اوپرمخ تګ حسیات ولری ، نوداوسنی عصر دولتو او حکومتو هم ځان دعمومو وګړو په پالنه اوروزنه اوښه ښوونو موظف ګرزولی دی چه دخپل وطن دوړ کیو دپاره ئی مکتبونه تاسیس کړیدی اودلویانو دپاره ډول ډول جرائد شایع کوی او بر سیره پردی باندی پرهر لازمی ځای باندئې رادیو ګانی نصب کړیدی اوعلاوه پردی باندی داوسنی عصر حکومتو دجامعی درفا او آرامتیا دپاره امنیت قائم کړیدی چه هر سړی په آرامی سره په خپله رتبه او درجه کی پر خپله وظیفه باندی ټینګ ولاړ وی اوتل په جدیت سره هر یو کار کوی خپل مفاد، دنورو په مفاد کښې پلټی اوخپل ژوند دنورو په ژوند پوری تړلی وبولی . اودانه تر لاسه کیږی مګر دعلم په ذریعه او مرسته سره ، اودهمدی لوړ عامل په واسطه هر څوك خپله وظیفه یعنی دجامعی حقوق پېژاند لای سی اودنړی په هر ډول امورو او کارو کښې ترقی اوودی کولای سی ، بی علمه سړی لکه ډوند داسی دی او دژوندون کښې اوسمه لارنسی ترله امرلای اوتل دجامعی داوزو پیټی لاهموی . بعض علماء اوشعراوو په سوو کلونه

کیږی چه‌دوی له‌دنیا څخه رحلت کړیدی مگر بیاهم تر اوسه پوری ددوی دپاته‌سو وآثارو څخه جامعه مستفیده بلله کیږی داصرف دعلمیت او وظیفی پیژاندلو په سبب ددوی نومونه تر اوسه پوری ژوندی دی . نوله دی مختصر وویلو څخه وموږته دا په ښه ډول سره څرگنده سوه چه باید هر انسان په‌خپل حیات اوژوند کښ د علم روڼه اودرنه مرغلره ولاس ته راوړی چه‌دهغه‌په مرسته اول دخدای امراونهی اوبیادخپل ټولواك اوامراوبیاخپله وظیفه اودځان ترکیب په جامعه کښ اوروسته د جامعی دمفادو حسیات داگرده وپیږنی اوسعی او کوښښ وکی چه وروسته له مرگه‌ئی هم آثار دنیك‌نامی او ښه رنگی پرمینه پاته سی ، دغرب وگړو چه‌په دامو جوده‌عصر کښ دونه ترقی اووده حاصله کړیده عامل او سبب ئی صرف علمیت اودافرادو ښه احساسات نظر وجامعی ته دی ، په دوی کښ‌ناخوانه اوبی‌علمه سړی ډیرلږدی نوځکه دوی تل دخپل گرانبها عمر لویه برخه دنړی دو گړو د مفادو دپاره په‌ذریعه دډول ډول اختراعاتو صرفوی . نوله دی جهته دټولنی هرفرد اووگړی ته‌په ټینگه سره لازمه ده چه‌تل خپله ورسپارلی سوی وظیفه‌او کارپه ښه ډول اوښه صورت سره‌سرته ورسوی اودخپل اهمال اولټی اوخیانت له‌لوری وخپلی ټولنی‌ته چه‌په‌حقیقت کښ‌دده ټول بدن‌او بلل کیږی ضرراوصدمه نه‌ورورسوی اوهمیشه باید متوجه وی چه‌خپل کاراورفتاردټولنی د گټی اومفاددپاره وکړی اود هغه په گټه او فائده کښ خپله گټه و پلټی نو په‌دی صفتو سره به دی دجامعی‌مفید اوسودمن عضو وبلل سی .

څلور ېځه

په انتظاریم و دلرباته
که نظر وکړی زما و خواته
سترگی‌می‌فرش‌دی زړه‌می کباب‌دی
که اشنای راسی و میلمستیاته

(بینوا)

اتل یا نابغه

ښاغلی عزیز الرحمن خان الکوزی ترجمه

له المقتطف څخه

دبشر فوق العاده افرادوته په عربی ژبه « عبقری یا نابغه » وایی ، اروپائیان ئې ژنی بولی ، زموږ په ملی ژبه داسی خلقوته «اتل» یا «وتلی» خلق وایی، زه غواړم د دې مقالې په ترجمه دالمقتطف څخه تاسی ته نوابغ او وتلی خلق درو ښیم :

❀ ❀ ❀

عبقریت او دهغه حقیقت :

عبقری چه فرانسویان (Cénie) وائی او انگلیسان ورته (Genius) وائی او دې لفظ ددیرو مودو څخه دبشر عقول په حیرت کښې اچولی دی ، او ټول فلاسفه او دعلم او تحقیق خاوندان دپاك خدای په دې حکمت او صنع کښې اریان پاتی دی ، او پدی موضوع کښې ئې ډیر زیات تحقیقات کړیدی ، چه خدای پاك یو سړی ته داسی یو فوق العاده فوت او قدرت او اقتدار ورکړې چه په خپله توره دنیا خپله کړی او دهغی حالت او مدنیت بل شان کړی او یا دخپل قلم او فکر په زور په خلقو کښې یو فکری تزلزل پیدا کړی .

ددیرو مودو څخه ټول خلق اولوی لوی علماء ددې حقیقت په معلومولو او پلټنه کښې مصروف دی ، او تر اوسه دا حقیقت چاندی کشف کړی ، او پدې فکر کښې بو خت دی چه ددې فوق العاده عقولو حقیقت څه دی ؟ او داڅه وجهه ده چه دبشر په افرادو کښې دانادر خلق دو مره ترقی کوی او یوتن ددې لوړ او فوق العاده قوت په اثر ددیرو خلقو او یا دټول عالم زمامداری او قیادت په لاس کښې واخلی او دهغه له قوته ټول عالم مرعوب او دهغه په علم او هدایت دنیا روناوی او په مودو او پیړو دغه نور ځلاندوی او دده په رونا او رونړ والی کښې هیڅ فرق نه راځی .

دبشر په بیل بیل قام په هره دوره کښې ډیر پوهان او لوړ لوړ عالمان او فاضلان او دارازفوق العاده خلق تیر شویدی چه دخپلی زمانې عبقری او پدې مرتبه کښې ئې د نورو پیړیو دعبقریانو څخه میدان وړی دی .

لکه چه پدی موضوع کښې ، « جورولر مو کر دانو » لیکی چه دشپاړسمی پیړی تر اخره پوری ددووسو و عبقریانو څخه زیات ندی تیر شوی ، او پدی موضوع کښې ځنی اروپائی مجلو هم دخپلو لوستونکو څخه دا پوښتنه کړې وه چه په دنیا کښې دلویو عبقریانو شمېر څونی دی ، ددې پوښتنی په ځواب کښې هرچا دخپلو معلو ماتو په اندازه ځواب ورکړ .

ډیرو حکیمانو او دقلم خاوندانو د « عبقری » دحقیقت په پیژندلو کښې ډیر کتابونه تالیف کړیدی ، او هم له دې کاره معلومیږی چه ددې راز خلقو وجود دخلقت دخارق العاده مظاهرو مظهر دی ، او دوی ددومره عظمت او لوړو فوق العاده اوصافو خاوندان دی چه زمانې ددوی امثال په یو ډیر محدود مقدار پیدا کړی دی ، او دالوړ نعمت پاك خدای په یو قام او یو مملکت او یوې طبقې پوری ندی منحصر کړی ، او داخبره ممکنه ده چه په هر ځای کښې پیداشی .

دعبقری په وجود کښې یوه دا راز باطنی پټه قوه موجود وی ، چه هروخت ئې دغه باطنی طبعی قوه دترقی او سعادت او مقصد خواته را کاږی او بیایی ئې .

او دی په دې خپله باطنی طبعی قوة با لکل پوه او خبر نه وی ، په حقیقت کښې عبقری یوه داراز میکانیکی آله ده چه دیوې پټی قوی په زور دخپل مقصد په لار روانه ده .

داپټه قوه هغه اوردی چه عبقری ترخپلی کامیابی وروسته په دغه اور پوهیږی ، او داهغه پاك اوردی چه دبشر دآرزو گانو او مشکلاتو او مصیبتونو لوی لوی سیلابونه ئې نشی مړکولی ، او هیڅ قوه د دې اور لمبې نشی مړی کولای .

ځنی لیکونکو دعبقری او نابغې په معنی کښې څه فرق ندی کړی او دیو معنائې دبل سره مخلوطه کړې ده ، سره ددې چه پدې دواړو معنو کښې ډیر زیات اوښکاره فرق موجود دی .

ځکه د « نبوغ » معنی خروج اوظهور ده چه دیو علم اویو صنعت دتکمیل اوښه والی په سبب انسان ته دغه مرتبه حاصله شوې وی .

اونابغه عظیم الشان او لوی سړی ته ویل کیږی اود « نابغه » لفظ هغه لفظ دی چه په فصاحت کښې ظاهر اوښکاره وی ، اوددې معنی ګانو څخه یوه معنی هم په عبقری باندی نه صادقیږی ، خلاصه داچه نبوغ په عربی لغت کښې د Taient کلمی مقابل دی ، یعنی حاصلول دیوې مخصوصی ملکی دی په یو کسار کښې ، سره دخاصو مواهبو .

او د عبقری لفظ منسوب دی عبقرته او عقبر دهغه ځای نوم دی چه عربو داخیال در لود چه پدې ځای کښې پیریان ډیر دی او په دې ځای کښې استوګنه لری ، اوهر کله چه به عربوته یوسړی په عقل او علم او صنعت اوقوت کښې یوفوق العاده سړی ښکاره شونو هغه ته به ئې عبقری وا یه او هغه څوك به ئی عبقری ګڼلو چه هغه به په هرشی کښې کامل اوداسی لوی سړی و . چه فوق العاده کارونه به ئې کول اوډیرقوی اوپوخ سړی به و

د « جنی ژنی » کلمه چه فرانسویان ئې د دې خلقو دپاره استعمالوی هم دعربی څخه اخستل شوېده ، یعنی هغه کسان چه دهغوی کارونه فوق العاده وی او دبشرله طاقته جګ وی او « جن » ته منسوب وی . لیکن مصریانواودلمرخاته خواخلقو لاتراوسه دعبقری مقام پوره لکه ددنیا دنورو قامونو په شان ښه ندی پیژندلی اودوی په خارق العاده کارونواو فوق العاده انسانانو کښې بالکل تحقیق اوتدقیق ندی کړی اودې نتیجی ته ندی رسیدلی چه دادبشریت اتم مظاهر او د انسانیت کاملی نمونی او دفوق العاده عقل اوپوهنی خاوندان دحقوعلمی لاروڅخه تحلیل کړی ، او په حقو او ثابتواصولوددې معمی تفسیرو کړیشی ، اودوهم له میدانه دحقیقت میدان ته راووزی .

که انسان دنابغې اوعبقری په معنی اومصداق کښې پوره غورو کړی نودې نتیجی ته به ور سیږی چه دلغت واضعانو پدی مسئله کښې اشتباه کړېده چه هغوی عبقری دنابغه په ځای استعمال کړیدی اویائې نابغه دعبقری په ځای .

لکه چه چا حضرت علی (رض) ته نابغه اوچا ورته عبقری ویلی دی اوډیرو ادیبانو په عبقری او ډیرو په نابغه ستایلی دی .

پوهانو په خپلو کتابونو کښې دعبقری راز راز تعریفونه کړیدی ، چه دعبقری لفظ ترتفسیر وروسته به د پوهانو هغه الفاظ رانقل کړوچه دهغه ترلوستلو وروسته به ښاغلی لوستونکی پدی پوه شی چه دعبقری په تعریف کښې اختلاف شته مګر مصداق ئې یودی .

دادعربو یوه اجتماعی مسئله ده چه هر انسان چه به یولوړمقام اوپورته رتبې ته ور سید او په فکر او تدبیر یاشعراو ادب اویاپه جنګ اوسیاست اویا صنعت اوغیرت کښې به یوفوق العاده مقام ته ورسید نودوی به ضروردا ګمان وکاوه ، چه دی سړی دپیریانوسره علاقه پیدا کړېده ، او ځکه دبشریت له مرتبی تیرشوی دی اودافوق العاده کارونه ئی دلاسه کیږی اودعبقری په خصوص په عربو کښې داعقیده ترنورو قامونو زیاته وه .

اوهر کله چه په عربو کښې داخبره مشهوره ده چه دعبقری اطلاق په شاعر باندی کوی نوپدې سبب هغوی داعقیده لری چه پیریان صرف شعر سړی ته ښودلی شی او بس .

لیکن حقیقت داندی چه عبقریت صرف په شاعرانو کښې منحصر دی اوممکنه ده چه یو جنګیالی اویو صانع هم په خپل کار کښې فوق العاده مهارت حاصل کړی اوخارق العاده مرتبې ته ورسیږی اوپه هغه هم دعبقری اطلاق وشی .

دانسان دپیدا یښت درجات :

بشر په خپلو نفسانی مراتبو او عقلی مدار جو کښې دیوبل څخه متفاوت خدای پیدا کړیدی ، اودانسان فضیلت په نفسانی فضائلو دی اومادی عوامل لکه دولت اوثروت اونور نوردانسان په فضیلت کښې بالکل دخل نه لری ځکه مادی فضایل دانسان دنفسانی فضائلو اومعنوی محاسنو تابع دی اودعبقریت اساس هم په نفسانی اومعنوی فضائلو ایښو شوی دی دعبقریت څخه لاندی بله مرتبه دنبوغ ده اوترنبوغ لاندی دنورو هغه فضائلو مرتبه ده

چه دعقل او کمال اوزیار په سیوری کښې انسان ته حاصل شوې وی . نو معلومه شوه چه عبقریت یو خلقی شی دی چه په انسان کښې خدای پیدا کړیدی اوعبقری یی د خپلی ارادی دخلقت په حکم عبقری دی بې د کم او زیار اوتکلیف وغیره ، لیکن نابغه دخپل زیار او کوښښ اوسعی اوعمل په واسطه په خپل اختیار نابغه کیږی ، اوسره ددې چه دنابغه والی استعداد لری لیکن سعی اوعمل هم پکښې پوره د خل لری .

مثلاً که یو نابغه شاعر او نابغه موسیقی دان بیاموندلی شی چه هغوی دډیرو مودو او میاشتوا وکلو نو زیار او کوښښ په سبب دې لوړ مقام ته رسیدلی وی . دانا بغه شاعر اوموسیقی دان دعبقری موسیقی دان اوشاعر سره ډیر فرق لری ، ځکه دا کارونه د نابغه په طبیعت کښې کسبی پیدا شوی دی او دعبقر ی په خلقت کښې داخل اوطبیعی دی .

اودعبقری شاعر او موسیقی دان دشعر او موسیقی تاثیر دانسا نانو په نفوسو کښې یو روحانی کار دی چه دبیان دقوته خارج دی اوهیچری نابغه که ډیر زیات کوښښ هم و کړی د عبقر ی مقام ته نشی ر سیدلی ځکه چه د نابغه قوه کسبی ده او دعبقري مقام کسبی ندی بلکه مو هو بی دی .

البته تا سو به دلویو عبقریانو قصې په تاریخ اونورو کتابونو کښې لوستلی وی چه دهغوی لاری او حکمتونه اوخبر ی نصائح اوارشادات ترقیامت پوری برقراراوپه خپل ځای پاتی دی .

او لکه چه وړاندی موبیان کړل دعبقری او نابغې په مینځ کښې لږفرق دی ، اوددی مسئلې دتوضیح دپاره غواړم چه یو څو مثا لو نه ذکر کړم « کنټ او گت » عبقری ومنگر « سپنسر » نابغه دی ځکه چه « کنت اوگست » ددې مو جوده فلسفې اساس وضع او اختراع کړیدی اوهم دې سړی دبشر دپاره علوم اومعارف مدون کړیدی چه ددې جملی څخه یو « علم العلوم » دی چه د حسی اووضعی فلسفی څخه ئې جوړ اوتیار کړیدی لیکن سپنسر هم داوگست روش اوشیوه تعقیب کړیده ، اوپدې تعقیب کښې ئې ځنی فلسفی مشکلات حل کړیدی ، او د حکمت مبادی ئې لکه دعالم دفلسفې په شان ښکاره اوظاهر کړیدی اوپدې حال کښې ممکنه ده چه سپنسر هم یو ه او سطه درجه عبقری ومنل شی ، شیخ الرئیس دبلخ ابوعلی سینا عبقری دی منگر این رشد نابغه دی، ځکه دابو علی سینا ژوندون او حالات او دهغه دعلم وسعت اواحاطه او پدې فوق العاده تلوار سره دهغه دمعارف انواع او اقسام راټولول او نورذاتی مواهب چه هغه له خدای ور کړی و ، داټول ددې شوا هدوو چه دایو مستقل او ځانته فوق العاده انسان دی .

لیکن ابن رشدسره ددې چه په دنیا کښې شهرت لری اودنیائې پېژنی اودهغه دعلم اوفضل قدر کو ی ، او د ارسطو دفلسفی په توضیح اوبیان کښې دهرچاخخه پورته دی اوپدې کار کښې ئې څوك سیال نشته ، لیکن سره ددې دونی مزا یاو دحکمت دبرر گانو اولو یو خلقو څخه دی مگر رئیس ندی .

ناپلیون بوناپارت عبقری دی مگر دهغه نور سرداران لکه هوسن، کلیبر (تای) وغیره نوابغ دی .

ژان ژاك روسو عبقر ی دی لیکن ولتر نابغه دی وا شنگتن دامر یکا منجی عبقری دی مگر ابر اهیم لنکن نابغه دی ،

دالږ مثالونه مود دې دپاره ذکر کړل چه ښا غلی لوستونکو ددې مثالونو په مرسته ددی دواړو په مینځ کښې فرق اوپه خپل مقصد ښه وپوهېږې (نوریا

نوی پسرلی

ښاغلی محمدنسیم خان «نوری» له قندهاره

بلبلا نوبیا ناري کړې چه معشوق ئې په خنداسو
دا عجبه نو بهار دی وطن هررنګ زیباسو
آزاده ورباندی ګرزی چه ئې خپل محبوب پیداسو
وائی حب لماخخه زده که ـ داهم دی هغه کلونه
دهجران په اورو سوی ملا قی د خپل اشناسو
هغه لمر هغه سپوزمی ده ـ هغه مخکه اسمانونه
د عشاقو انجمن دی خو بلبل پکښې رسواسو
دااوس څنګه عجب کاردی نو نهال په ګلو بارسو
د هر چا سره لمبه ده ـ هسی نه چه یوترې خلاص دی
آ بیاری دهنر منو مخکه ژر داسی تیار سو
پرهر ځای سازو صحبت دی ـ پتنې شمع ته رقاص دی
دلته هلته هوری هسته هر بلبل بیا پچغار سو
زرغونې جامې اغوستی الماسی امیل ترغاړه
مخکه وینې له درانه خوب دباغ هرسړی بیدار سو
بخملی مخکه ګلرنګه عاشقان په سیل ولاړه
کې کتله صبحدم دی ـ لمر دی خرک تازه وهلی
په ښائسته ولوړوغروکی په کړ کی زرکه ولاړه
ژررا پاخید په تلوارسو ـ پخپل زیان سو پوهېدلی
په بلند آواز کړی ناری ککړ تیاله ځانه نغاړه
درګوهر شوله ځلیږی داده لویوغروشنه کانی
دوطن په شاوخوا کی ـ بلبلان نغمه سرا دی
ولمر خرک وته نن ناست دی سپینی غاړه ئې دزانی
دادمینی مینی ساز دی ـ دلته نوی رنګ پیدادی
زمردمو د وطن شول د چنار دونی پانی
منظره د خوشالی ده چه موسم راغی د ګلو
سره ناست په شنه چمن کی جره بازو اوهم ځاړی
د مرغانو آوازونه هم غوغا ده د بلبلو
دارحمت د ذالجلال دی ـ د جنت یو نمونه ده
دسهار پرګل کړیږی نې مړیږی په کتلو
ظلم نسته پرچا باندی ـ ورکه شوې د ریله ده
مسافره ګله راغلې لمن نیسم په منګلو
که دی خیال دی نن بهاردی دخپل بڼ یغم کی اوسه
یاره زور محبت غواړی ـ دهر ګله سره خاردی
د الفت نخښی ښکاره که وهر ګل وته ئې یوسه
دعاشقو زړه به تراشی ـ نیم بسمل ئې خواروزاردی
ښه موسم «نسیم» چلیږی دهر ګل سره په بوسه
بلبل تاوته طعنې کا وزر خبری د بو راسو
پتنې ګډ په سره انګارسی چه په مینه کی رسواسو
پسرلی دی پسرلی دی د عبرت سبق ترې یوسه
دا سبق د محبت دی دا هرچا لره استاسو
تمام عمر ښه بهار دی ـ چه دی خپل وطن ودان سی
هره ورځ ئې پسرلی دی ـ چه هر فرد ئې قدردان سی

غزل

ښاغلی عبدالرزاق خان «فراهی»

ټوله عمر می تېر ېږی ستا په خیال — توره شپه می سبا کېږی ستا په خیال
لکه لمر چه سپینکی مخ دی را په یاد شی — زړه دشم په شان ویلېږی ستا په خیال
هغه وخت چه د آسمان تیاره خپره سی — خوار مین کله بید ېږی ستا په خیال
چه و ټولو کا ئنا تووته گورم — لا موجود را معلومېږی ستا په خیال
زما دواړو مقا صدو ته قبله یې — بل مقصد نه حا صلېږی ستا په خیال
غمازانو ستا دجور پېغور را کی — مگر بی اغېزه لوېږی ستا په خیال
«فراهی» دی په تهمت لکه منصور شو — خوار دغم په ټال زنگېږی ستا په خیال

مینه

ښاغلی محمد گل خان «نوری»

نن می بیا نیمکښه سترگی دجانان دی — تکی سرې لکه سور گل دارغوان دی
په غمزو باندی ئې زما زړگی سوری کی — په با ټو خپل ئې پېیلی عاشقان دی
چه دجان سترگی په څېر دارغوان سوې — پر را جمع د بڼو ټو ل بلبلا ن دی
سپین غاښونې لکه سپینی نری ورجی — نری ژبه سرې اوری سره ئې شونډان دی
سپینه زنه ئې کټ مټ لکه مڼه د ه — شینکی خال تې شرمینده دبڼ توتیان دی
هر با ټو ئې لکه غشی خطا نه ځی — سر ترنوکه هسی ښخ زما په ځان د ی
توری څونی ئې الول پرمخ پرتې دی — پرورتلای نسم فقط تورښاماران د ی
سم قا مت د یار عیناً لکه او یښته — نېغه و نه ته ئې ټول عالم حیران د ی
یار زما نن یگا نه دی په جهان کی — دارم ښکلی ئې ټوله شاگر دان د ی
لاس می نه رسی وصلت دجانان گران دی — خدایه څه وکم تر منځ مو غمازان د ی
چه داښکلی کاته نه کا مغرور گرزی — دا په دا چه د ښه حسن تښتنا ن د ی
مینا نو لر ه خو ب و خندا نسته — دمین په غم کی ډوب ستړی ستومان د ی
مینان تل بند په زېل د خپل مین وی — مینان مدام په ویر دخپل جا نا ن د ی
معشو قان چه کله هو کې کله یه کی — په دې چم ئې تېریستلی عاشقا ن د ی
«نو ری» نوره مینه مه کوه دښکلو — نننی اشنایان ټو ل بې وفا یا ن د ی

غزل

ښاغلی عبدالمنان خان

زه دیار په درد غم لړ لی خو ښ یم — ددلبر په زلفو غبرگ تړلی خو ښ یم
محبت می د ی مندلی په ژړا کښ — دبلبل پشا ن په گل ژړ لی خو ښ یم
چه صفت ځما دیار و ر پکښ نه وی — دهغه مجلس نه زه شړلی خو ښ یم
دشهباز په شانی خوښ په هوا نه یم — ددلبری په څنگل کښ مړی خوښ یم
زه دیارد تو روز لفو دیدن غوا ړم — ددلبر په مینه سر ور کړ ی خو ښ یم
ماهزار کلو نه عمر قبول نکه — ځکندن کښ خپل دلبر دم کړی خوښ یم
په ژړا کښ می موندلې خوشحالی ده — زه داوښو په سیلاب کښ وړی خوښ یم
زه پښتون «عبدا لمنان» همیشه وا یم — تل په دردد عاشقی کښ ستړی خوښ یم

د شکر ناره

ښاغلی محمد ابراهیم خان « خواخوږی »

شکر دی خدایه نن مو خلق په پښتو ژغېږی
هم گران وطن مو پنامه د پښتو نخوا یاد ېږی

هر یو پښتون پخپله ژبه دی نن داسی مین
لکه پټن چه د ډیو ې پر سر ولمبو گډېږی

دوه مینان سره یو ځای لکه لیلا و مجنون
پښتو لیلا ـ پښتون مجنون غماز ئې تل خوار ېږی

هیڅوك به نه وی چه مزله ته په یو وار ورسی
ورووروسړی پر ځنو ځی نو پر بام و در ېږی

تول پښتانه دی په هر ځای کی د گلا نو غوټی
گلاب دی نن پر غوړېد ووزم ئې نیو ټیږی

خاونده ته ئې دخزانه په امان کې ترتل
پښتو موژبه ملك زموږ په پښتانه یاد ېږی

ترقی وی دهغه ملك چه ئې وی ژبه دځان
نه هغه څوك چه تل په ژبه د پردوږ غېږی

توله قومونه دی دځه موږ یوولی پاتی
توریالی توب اولوړ وجدان مو پر دنیا یاد ېږی

خدایه تې وبخښی غازی « نادر » رښتیا و پښتون
چه پښتو ژبې کړه ژوندی اوس ئې گلان غوړېږی

خوانبخت تو لو اك مو ظاهر شاه دی د پښتو غوښتو نکی
تول پښتانه خو دی همیش تر دې ساعت جاریږی

بل مو ځلمی وزیر صاحب دی پر پښتو ډیر مین
په مکتبو کی د پښتو ښې نندارې ښکاریږی

راسه « خواخوږی » نن دی ژبې ته خدمت وکه ته
چه بې زحمته پر دنیا هیڅ سړی نه اوړېږی

لندی

ښاغلی سعدالله خان

که پرې پوهېږی هر یو لمر دی
د عشق اسمان باندی زما د زړه داغو نه

ما ته پلار غندی نصیحت کا
که لیلی وو یني ماشوم وو ړ کی به شینه

خدای دی ناصح زما په دود کا
چه بیا تو به له نصیحته و کا ږ ینه

له خو به وینې شه که دیدن کړې
په پټو ستر گو چیری نه شی دید نو نه

ماته زیړ رنگ خپل رقیب جوړ سو
په جامعه کې د گلر خو رسوا کړ مه

له نا زه پټی ستر گی گر ځی
خه به می زیړ رنگ وچی شونډی ووینینه

بخت به می هله را بیدار شی
چه یار له خو به راته ستر گی پورته کړینه

ورځ به پیا تو ره تیاره کا
چه لیلی بیا په رنجو ستر گی توره وینه

په پلو ستا مخ نه پټېږی
نور دخراغ په شیشه څوك نه پټه وینه

په زړه می اور په سر می سیوری
زلفی ئی سیوری مخ ئې سرې لمبې کوینه

زړه می د ستر گو له خوا وسو
مخ چه دی گورم تورلوگی می له زړه ځینه

ستر گی می زړه ته شوې راښکته
ستا دیدن غواړی تامی زړه کی لټوینه

ددلبر کور می د ی په زړه کی
ستر گی می ځکه زړه ته ځی پښتنی کړینه

د ستر گو بازئی هوائی شو
زه دځکر کتر ې طعمه ورپسی وړمه

نور خه ئې وړ د قیمت نه د ی
« سعدالله » غواړی هغه خو له زړه ور کوینه

غزل

بناغلی عثمان خان « صدقی »

اگرچه از کف من زود روزگار رود
خدا کند که بسودای زلف یار رود

نوید کشتن من داد یار ومی ترسم
که او نیاید وجانم بانتظار رود

تپد بسینه وخون گردد وسرشك شود
گهی دلم که بیاد رخ نگار رود

هزار جام نیارد خمی با بروی من
بیك نگاه ولی زودم اختیار رود

زکوی یار مرا منع کرد ومجنون گفت
بلا بخانهٔ این مرد هوشیار رود

کسی که عشق ندارد نمی رسد بمراد
اگرچه بردر پیر مغان هزار رود

چوشاهپور بهر فصل خواهمت جانا
« سرخزان بسلامت اگر بهار » رود

پر پروانه

زادهٔ اشکهای بناغلی « آئینه »

چمن پرور نازپیرایهٔ
تب و تاب عشاق را مایهٔ

چراغان چوآتشکده پیکرش
بمحفل فروریخت بال و پرش

به گرد سر شمع تا شد فدا
ننالید و نی کرد بالا صدا

❀ ❀ ❀

زپروانه بهرجای پژمان پری
نمایان شد ازمشت خاکستری

سحر شمع مجلس خموشی گزید
رقیبان شد از گرد او ناپدید

نسیم آمد و بال پروانه را
بیاورد با خود به گلزارها

نثارش بپای گل زرد کرد
چمن رابداغش پراز درد کرد

❀ ❀ ❀

شدازمرگ پروانه گلشن خبر
زدند حلقه پروانگان دور پر

بداغ دل خویشتن سوختن
زپروانگی شمع افروختن

گذارای جوان شور عشق از سرت
مسوزان چو پروانه بال و پرت

نظر کن در«آئینهٔ» عصرنو
بزلف بتان تابکی درگرو

غزل

بناغلی محمد انورخان « شفق »

غرق خون گشته دوچشم من حیران بیتو
دل ماتم زده ام گشته پریشان بیتو

یك شبی سبز نشد از قدمت باغ دلم
چند باشم من بیچاره بحرمان بیتو

دردمن نیست بجز یادتو هر شام وسحر
صبح محشر بودم شام غریبان بیتو

آب لطفی به سرم ریز که خون گشت جگر
سوختم سوختم از آتش هجران بیتو

آه سردم بتو تاثیر نه بخشید هنوز
روز وشب هست مرا دیدهٔ گریان بیتو

پای گل یادتو ازخویش مراخواهد برد
هرصباحی که روم سوی گلستان بیتو

چون « شفق » آئینه ام رنگ حنائی بر داشت
تا بدل خورده دوصد خنجر و پیکان بیتو

دنورو اشعار زموژ په ژبه

هینریش هینه المانی شاعر :

ته لمر مخې یې !

ته لکه کوکې . . . هسې ښکلې اوسپېڅلې یې !
تاته تل ځیر ، اوپه زړه ورتیا گورم ، که ماته پخپل زړه پوری ومښلوې !
زه به خپل لاسونه ستاپرسر کښېږدم ،
اوهیله به وکړم چه لوی خښتن تل ستا سپېڅلتوب اوفشنگی وساتی .

❀ ❀ ❀

(دښاغلی گړندی ـ آزاده ترجمه)

مه لیکه

مادام دیور فالمور فرانسوی شاعره :

ماته څه مه لیکه ! زه داسی په ویر لړلې یم چه مرگ غواړم .
دپسرلی ښکلی وختونه ، ماته داسی دی لکه مړه مینه .
ځکه چه تاته نسم رسېدلای ، نواوس قرار ناست یم .
څوك چه زما په زړه گوتی وهی ، لکه زما پرقبر چه خېژی !

مه لیکه !

مه لیکه ! موږخپل ځانونه ښه پېژنو چه مړو !
نوبیله خدایه له بل چاڅخه څه مه غواړه .... ته پرما گران یې !
زه هم اروم ، چه پرتا گرانه یم .. .
مگرڅه وکم ، داخبری زه له اسمانه اروم ... خوهلته نسوای ختلای .

مه لیکه !

مه لیکه ! زه پرتاپېرېږم ، زه له خپله یاده بېرېږم چه ستاهغه زغ ساتی چه تابه کله ماته ویل :ـ
او به هغه چاته مه ښیه ، چه نه ئې سی چښلای .
زما ذا کره لکه ستاخوږ لیك داسی دی ، نو .

مه لیکه !

مه لیکه ! داسی خوږې خبری مه راته لیکه چه زه ئې ویلای نسم !
داسی راته ښکاری ، لکه ستازغ چه ئې زماپرزړه راتووی ،
چه اروم ئې ، زه چه وایم، ستاخوږه مسا هم وینم .
اوزما پرزړه لکه نقش داسی کښېنی .

مه لیکه !

(آزاده ترجمه ـ «حبیبی»)

د عسکرو وروستۍ وینا

شکسپیر :

دښاغلی محمد هاشم خان « پردیس » ترجمه

غوږ ونه به می شپیلۍ ته څك وه . . . !
تل به می داسانو ششنی ، اروېد . . . !
دداله ژغ به زړه را ژوندی کاوه . . . !
دملګرو به می بنی پرسر جګی وې . . . !
زړه به می تل جنګ غوښت . . . !
چه په کی بریالی اونامتوسم . . . !
خو اوس . . . !
مړمه . . . ! نو . . . !
خدای پامان . . . !
ای زما عسکری غرور . . . !
ای زما ګران تولیه . . . !
ای دعسکریت مزیته . . . !
خدای پامان . . . ! تر ابده پوری . . . !

❀ ❀ ❀

لارد مکالی

ښه مرګ

ژر یا په ځنډ . . . !
پرهرچا به مرګی راسی . . . !
خو هغه مرګی . . . !
چه دنیکو دخاورو دپاره وی . . . !
دهغو خاورو دپاره . . . !
چه خدای پرستانی . . . !
ترهغه نو ښه مرګ نسته . . . !

هیمنز شاعره

مرګی

پانی خوپرتا کلی وخت رژیږی . . . !
ګلان خودمنی په بادتوپږی . . . !
ستوری خوسهار مال ور کیږی . . . !

خوته اې مرگیه . . . !
ټول وختونه ستادی . . . !
ورځ خود کار دپاره ده . . . ما ښام خوسره ټولېږو شپه‌خودخوب اودعا دپاره‌ده . . . !
خوته اې مرگیه . . . !
پرټو لوبرېې ! اوټول ستادی . . . !

❀ ❀ ❀

موږ پوهېږ وچه . . . !
کله به‌سپوږمی راوخېژی... ! کله به‌ددوبی مرغان‌ددریاب . دهاخوا څخه‌راشی ... ! کله‌به‌ژړاوطلائی‌غنم ورېبل سی . . . !
خوته اې مرگیه . . . !
څوك به‌مو پوه کی‌چه‌ته کله راځې . . . !
کله چه‌دپسرلی لمړۍ وږمه . . . !
زموږ په‌غوږوکی د گلانو حال وایی . . . !
هلته به نوراشې . . . !
یاهغه وخت چه‌سور گل مړاوی اوسپین‌شی . . . !
نوبه راښکاره شی ...!چه‌ټول خپل وخت لری ! خوته هروخت یې ... !

❀ ❀ ❀

هلته چه‌داوبو څپې دی ...!
ته‌هلته ئې ...!
هلته چه سندرې په‌هوا کی خپرېږی ...!
ته هلته‌ئې ...!
ته ...! راچاپېرئې !
زموږ په‌بیغمی خونی کی هم‌ئې ...!
نړۍ موږ ستنوی ...!
خوته ...

❀ ❀ ❀

هلته چه‌یاران سره روغبړکوی
هلته چه غلیمان‌سره مخامخ کېږی
هلته چه‌ډول درېږی ...! اوهلته چه‌تورې برېښی !
ته‌هلته ئې ! ته‌هر چیرته ئې !
هرشی ټا کلی وخت لری.
خوته اې مرگیه . .!
په‌تو لوبرئې ...!
اوټول وختونه ستادی ...!

مور

تاگور :

زما خپله مور په یادنده
مگر هر کله چه زه لوبی کوم
نومی کله کله
یوسپك زغ تر غوږ سی
داهغه زغ دی
چه دبیدبدو پروخت به ماته مور للوویله
دې زغ
به زه دلوبو په غېږ کښې پاروو لم .
خوزه پوهېږم ، که څه هم
زمامورله دې نړۍ څخه تللې ده .
مگر زمادیاد دپاره ئې خپله سند ره پرېښې ده .

❀ ❀ ❀

زماخپله مور په یادنده
مگر چه دپسرلی په رنگ بهونه ښکلی سی
اوله هری خوا گلان ښکارېږی
نوماته
په پرخه نیولو گلانو کښې
دموردغېږی وزمه راځی
زما خپله موررا په یادېږی
چه له بنه به ئې پهډکه گوډانه کښې گلان راوړل .

باربی دور فیلی :

آه ـ داهغه اوبه نه دی چه دتږی پردېس بدن په تازه سی ....
هم بې ځایه خوبونه ! .... دېرمینان په خوب کښې وصال وینی ؛
اما ـ چېری .... ؟ دانو هغسی خوند لری ؟
لکه دوه دلباختگان چه زړه په زړه او لاس تر غاړه سره بیده وی .... هیڅکله ـ .. !
دغه رنگه سعادت ! .... دېر سعادتو نه دی چه دخلقوتنده ورته زیاته وی .... مگردانیك بختی نه دی ، چه ترزوال وروسته ژړا ولری ـ .... داتوله هیڅ .... !
په ژوند کښې یوشی سته ، چه تل ترتله په زړه کښې قایم ؛ او په هیڅ توگه زوال نه لری ....
څه شی ـ ؟ سپېڅلی محبت !....
نه کلونه اغېزه پر کوی ، نه زمانه !
هو ـ کله کله د خلقو گمان وی چه محبت ضایع اود زمانې په غاښو ژوبل ژوبل شو ....
چه پرخپله مسئله ئې کښېږدی
اولمونځ وکی .

❀ ❀ ❀

زما خپله مورپه یادنده
مگر کله چه زه
پرخپل بستر وغځېږم
اودکوټی تر پرانتلی مکڼ
زما سترگی
پراسمان ولوېږی
نوماته
داسی ښکاره کېږی چه
دستورو په ځلیدوکی
زما مور
له لوړی را کښته کېږی
اوراته خاندی وایی :
« پرما گرانه ـ !
زه ستا سره نه یم ـ مگر
اروامی تراوسه ستاسره دی . »

(دحبیبی ترجمه)

سراب !

اما ـ بیرته ئې بیاهم لس واره ژوندی کوی !!

❀ ❀ ❀

زلمیتوب ځی ـ ... زمانه ، دزړتیاپه لاس دزلمیانو دزړه مړاندی ورو ، وروشلوی .... هرڅه له زړو ، وزی ـ مگر ـ محبت ! ....
د محبت د اسی تینگی مړاندی دی چه هیڅ ئې دشلیدو گمان نه کېږی . .... !

❀ ❀ ❀

روغ خلق د مین زړه روغ رمی گڼی : ....
خو ـ د مین زړه سخت تپی دی ، چه بیله عاشقه بل څوك ددې تپ زحمتونه گلولای نشی .... !
داتپ دی چه روغتیانه لری ـ اما ، وینی ئې هم نه بهېږی .... ـ داسی تپ دی چه هیڅ سړی ئې تشخیص اوبیان نه سی کولای ـ مگر هغه څوك چه د محبوب پر مړوندئې سرایښی اولاس ترغاړه ورسره پروت وی ؛ ..
آ ه ـ داهم خوب دی او سراب ! ! !

(آزاده ترجمه : عبدالرؤف « بینوا »)

عشق و ابدیت

انتخاب ازآثار (Southy) انگلیسی)

ترجمهٔ سباغلی و ساه

کسیکه عشق‌رافنا پذیر میداند بی‌روح وخطا کاراست. تمام احساسات باانجام زندگی نابود میشوند .

این آلایشات زندگی‌راهی به‌ملکوت ندارند ، زیرا آنجاحیطهٔ بی‌آلایش است ؛ آزوحب جاه درورای آسمانها زیست نمیتواند ؛ دراعماق ودخمه های سوزان دوزخ نیز کینه و ظلمات دنیوی راه ندارند . این احساسات پست خاکی درهمانجا درهمان صحنهٔ موئم زندگی کهوجود یافته پراگنده وفنا میشوند .

ولی عشق ! : این کلمهٔ مقدس ، جاوید وفنا ناپذیر است ! شعله های نورانی آن درفضای همیشگی ملکوت روشن است ؛ گرمی‌وروح محبت ازدل سوزان این‌شعله‌ها انتشار یافته محیط ابدی‌را مملو وسرشار میگرداند . این عشق کههمه وقت قلوب سیاه بشررا تکان میدهد ازعرش پائین آمده وباز بسوی آن پرواز میکند . . . !

این‌عشق درعرصهٔ کائنات همچو مهمانی است کهجز با زحمت وتیره گی ، جز بافریب وظلم ، وجز با فساد وآسودگی استقبال نشده . . . ! مگر باز هم این عشق در خلال این او هام سنگین بسوز وگداز آمده وبیغش گشته .

هان ! این متاع پاك وبیغش درقلب عرش وجنان براحت ابدی نائل میگردد ! این عشق بی آلایش اینجا درمزرع قلوب بشری دانهٔ آمال خودرا بامحنت واحتیاط پاشیده ودرآنجا خرمن این آرزوی خودرا ازاین دلهای دردمند جمع میکند .

اوه ! مادر داغدیده ای که درآغاز زندگی جاوید درعرصهٔ ابدیت، درجریان لمعاتی‌کهطفل گم گشته ومحبوب خودرامییابد درمقابل تمام آلام ومصائب، روزهای بدبختی واندوه ، وشبهای تار وبیداری پرستاری‌او، باری برای همه رنجها واشکهای خونین اوخدا بهجت وسرور بی‌پایانی باو عطا میکند ! . . .

اینست نمونهٔ فصلی هم که عشق پاك ازقلب داغدیدهٔ این مادر برمیدارد !

وای بر آنکه میگوید عشق لذت مادی وعدم پذیر است !

گفتار های سود مند

آرزو وامید کار مقنن نیست (زا خاریه)

❀ ❀ ❀

روح اعتدال باید روح وفکر مقنن باشد (مونتسکیو)

❀ ❀ ❀

شخصیکه درحال‌بحران وطن جزنجات فکردیگری رادر سر می‌پرورد قیمت آنرا ندارد که دریك مملکت‌آزاد زیست کند . (کلینگر)



ع ، ج ، و ا لا حضر ت سر دا ر محمد نعیم خا ن وزیر
معا ر ف (معاون صدارت عظمی) نوا ر سه ر نگ
دروازهٔ عمارت دستگاه برود کاست را بر سم افتتاح
قطع میفر مایند

ع، ج والا حضرت سردار محمد نعیم خان معاون
صدارت عظمی درموقع ایراد خطابهٔ افتتاحیهٔ رادیو کابل

پښتو
زبان ملي
وراه پيشرفت ان

د پښتو د ژوند درې زېرى

له قلمه د ع،ص ښاغلى برهان الدين خان كشككى
د پوهنى د وزارت د روزنى او ښوونى رئيس

په چړ چه او خوشا لتيا دى پښتو نخوا بيا
په پڼا كه له خو ښى دى پښتو نخوا بيا
د پښتو ده ترقى او پر مخ تگ بيا
ډېر خوشال دى پښتانه او پښتو نخوا بيا

تياره شپه ئې سپينه ورځ شوه شكر كاږو
بيا شوه پېغله داسپين سرې پښتو نخوا بيا
هم پوهنى په پښتو دى هم روزنى
په پښتو دشى لا ټينگ گرد پښتو نخوا بيا

«ظاهر شاه» دى بريالى پخپله چاروى
چه له زيارئې شى ودان گرد پښتو نخوا بيا
اوس د گل په شان غوړېزه «كشككيه»
زاړه ستائى ، ځلميان روزى پښتو نخوا بيا

ځموږ د شهريار معارف شعار المتوكل على الله اعليحضرت محمد ظاهر شاه (سلم الله تعالى) - د عرفان پالونكو افكار و په پيروى ، نژدى د څلورو هفتو د تېرېدلو په موده كښ درې لوى زړه خو ښوونكى زېرى دافغانستان ښاغلى او پوه ځلمى والا حضرت سردار محمد نعيم خان د معارفو وزير د والا حضرت سردار محمد هاشم خان دافغانستان صدراعظم معاون له حق پرست لاس او ژبى څخه ددې صادق ملت او ددې قدردان قوم او احسان پېژندونكى جامعې غوږوته رسېدلى ، او دافغانستان گرد فومونه اوطبقې ئې سر ترپايه په خوښى او خوشالى كښ ډوبى كړى دى چه داوسنى عدل لرونكى حكومت شكر كوونكى اودعا كوونكى ئى دى .

په ثانوى مكتبو كښ د پښتو د ساعتو زيات توب

لمړى زېرى په اعدادى اورشيدى صنفو كښ د پښتو د درسو د ساعاتو زيات والى دى ، په همغه ډول چه دابتدائى صنفو طالبان گرد خپل تدريسيه مطلبونه پخپله ملى ژبه پښتو زده كوى ښائى چه د ثانوى مكتبو طالبان هم داستفادې په زيات توب له هغو څخه گټه واخلى .

هغه زمان چه والاحضرت سردار محمد نعيم خان په ثانوى مكتبو كښ د ملى ژبى د ساعتو ددې زياتوالى په نسبت د تعليمى عمومى مراجعو د زړونو د پوهولو او خبرولو د پاره صادر كړى دى ، ترجمه ئى داده :

د معارفو د وزیر فرمان

«ژبه‌دخیالاتو اواحساساتو دڅرگندولو آله‌ده نوپه هره‌اندازه چه‌یوانسان په‌خپلو ملی تعبیراتوښه روږدوی، هغو مره ملی عنعنات او د مېنې حسیات ښه ځنی څرگند ېدای شی.

نو دوطن دو گړو دافکارو د پالنی او روزنی دپاره دملی ژبی ژوندون‌اوپرمخ تگ ډیرزیار اوفعالیت غواړی اوپه هره اندازه چه‌ملی ژبه ارتوالی او ترقی و کړی په همغه‌اندازه ځموږملی‌روزنی‌هم‌تقویه‌مومی اوترقی کوی.»

«نومو داسی ښه وگڼله - چه دپارسی‌ژبی ساعتونه له‌رشدی اواعدادی صنفو څخه‌لږ اود «پښتو» په ساعتو ورزیات کړل‌شی!»

«البته عربی‌قاعدی ددی اصول اورسم الخط له حیثه چه ځموږ د دې ملی ژبی مرسته کوونکی وی برحاله او جاری وی! اودهغه ټاکلی پروگرام دی تعقیب شی نو ځکه داعدادئی په‌اول - دوهم- دریم صنفو او دڅلرمې رشدی اودریمې‌رشدی په‌صنفو کښ‌دی یویوساعت عربی وی‌او درشدی په صنفو کښ یویوساعت له څلورم تراول پوری مدنیه معلومات او اخلاق مقرر شی، نور پاړسی ساعتونه‌دی په‌پښتو ور زیات شی»

دادی تاسو (دمعارف دوزارت دتدریساتو ریاست) ته‌ولیکل شول چه مکتبوته خبر ورکړی چه لدې وروسته دخپلو مکتبو دوختو وېش په‌پورتنی ډول جوړ کړی خپل ډېر زیار دې دملی‌ژبی دپرمخ تگ او لوړتیا په لاره کښ څرگند کړی.» «محمدنعیم»

ډومبنۍ رسمی پښتو په راډیو کښ

دوهم زېری دوالا حضرت سردار محمد نعیم خان فصیح اوبلیغه اوخوراپه زړه پوری ویناده چه د ۱۳۲۰ کال دحمل په‌لمړی ماښام ئې د افغانستان دنشر الصوت ددستگاه دلمړۍ افتتاح په‌موقع کښ په‌ملی ژبه‌په پوره طلاقت اوسلاست وکړه چه‌دهغی له اروېد لودگرد وملت غوښتونکو او وطن دوستانو زړونه خوښ او سترگی ئې له‌روښانتیا څخه ډکې شوې. لپاره ددې چه د «کابل» د شریفی مجلی لوستونکې بیاله هغی څخه مستحضرشی او ددې‌مجلی مخونه‌له هغو قیمت بها مرغلرو. څخه هم گټور شی موږ غواړو چه هغه مهمه بیانیه دلته لاندی له نورو مطبوعاتو څخه خوراښه اوبهتره نشر کړو:

د والا حضرت سردار محمد نعیم خان دمعارف

وزیر دصدراعظم معاون کټ مټ وینا

د کابل دراډیو دافتتاح په‌وخت کښ

❀ ❀ ❀

«دلوی خدای په‌نامه، او داعلیحضرت همایونی دروغتیا اوننگیالی پښتون ملت دسعادت په‌غوښتنه، د کابل دراډیو منځنۍ څپه افتتاح کوم:»

«گرانو پښتنو ارویدونکو! دې ته‌اړنه‌یم چه‌دراډیو داهمیت بیان وکم، ځکه تاسی‌ټول پوهیږی چه په‌اوسنۍ زمانه کښ راډیو دژوندون دورځنیو ضروریاتو څخه ده اوملتو اوحکومتوته ډول‌ډول وظایف پرځای کوی!

مگر داعلیحضرت دحکومت لوی‌مطلب په‌دې موسسه کښ دادی چه دمملکت په اصلاحاتو کښ یو گړندی پل دخلقو دروزنی اوپالنی په لارکښ کښیږدی.»

«په‌دی وروسته کلوکښ ځموږ معارفو لوی لوی نتیجې‌او گټی ښکاره کړی‌دی،چه‌موږته درون راتلونکی ژوند زېری را کوی. مگرنه ښائی چه‌موږ پردې سکته وکو او دهغو سړوله پالنی څخه سترگی پټی کو چه دوی دمکتبو له زده کړی څخه محروم پاته شوی، اوپاخه‌خلق دی ځکه چه‌دغه خلق ځموږ دملت یوه لویه برخه ده.

په دې مقصد نو داعلیحضرت حکومت، دراډیو استوونکی دستگاه جوړ کی، او دفنی شرایطو سره

ج ، صلاح الدین خان رئیس مستقل مطبوعات
پس از ختم نطق افتتاحیهٔ والاحضرت معاون
صدارت عظمی در اطراف چگونگی دستگاه رادیو
کابل ـ ومرام آن بیانات میدهند .

یك شاخهٔ از شکوفه

سم ئې لمړی پلا ، منځنی څپه وتا کله .»

« ځموږ راډیو عرفانی ده دافکارو دروزنی اودقوم دپالنی اوښوونی دپاره ده .»

« دبرگرانو اودکاو داصلاح دپاره ده .»

« دبیکاری دلیری کول اودزیار او کار دخپر ولو دپاره ده »

« دسوداگرواودتجارت دپاره گټوره ، اود وطنی مصنوعاتو دترویج دپاره ده !»

« دکسب، کارو،اودلاسی اوعصری حرفو دښوونی دپاره ده !»

« دکورنیو داصلاح دپاره ده ! »

« دملی ژبی دخپر ولو او ډېرو لو دپاره ده ! »

« ددې دپاره ده چه موږ دپښتون پخوانی ملت پخپل رون تاریخ اومفاخرو پو هوو ! »

« ددې دپاره ده چه دانگیالی قوم په دینی اواخلاقی نصائحو له عیش پرستی ، اواخلاقی ضعف څخه لیری شی !»

« ددې دپاره ده چه تاسی نوی خبرو نه او ځنی تفریحی پرو گرامونه واوری !»

«زه له هغو خلقو څخه چه دراډیو ترڅرغ لوړوونکو لاندی راتو لیږی ، دزړه له کومی دا خواهش کوم چه دزړه په غوږنی واروی ، او عمل په وکی ! »

هغه خلق چه څه وائی یائې لیکی هیله ځنی کوم چه دوی هم دخپلو اروپدو نکو پوهنی او استعداد ته پخپلو ویناو اولیکناو کښې وگوری .

دملت ټول زاړه اوځلمی ښائی چه په دې وپوهیږی چه ځموږ وطن دلوی خدای په اراده او دوطن غوښتو نکی پوه پاچا تر مشر توب لاندی دلوړ تیا پر لار ځی ،او خپلو مدنی اواخلاقی لوړو پوړوته رسیږی !»

نو ځموږ دټول ملت دسړیو وظیفه دغه ده چه تل ورسره ملگری اومرستی یو»

دپښتو تدریس په راډیو کښې

دریم زړی لویو خلقوته دراډیو پذریعه دپښتو ژبی دتدریس اجراده ـ چه دراډیو دافتتاح له موقع څخه راپه دی خواجاری دی او گرد ملت دوستان او وطن غوښتونکی نه یوا ځی له هغه څخه استفاده کوی ، بلکه داوسنی حکومت له دې زړه سوی اوغم خوری څخه چه ځموږ دملت او مملکت اودمدنیت دمفاخرو دشئونو وساتنی ته ئې لری دزړه له کومی د دې عدالت لرونکی دولت اوددې سر ترپایه باسعادت حکومت دبقا په دعا بخت دی !

❀ ❀ ❀

موږ دخپل متبوع حکومت دانیك مساعی (چه دملی ژبی دژوندون او ارتقا اودنورو ملی اومدنی شئونو دپاره ئې پله پسی ښندی) دتقدیر اوتمجید په نظر گورو ! اوله دې کبله چه ځموږ یوله ملی اواساسی آمالو په خورابنه صورت پر ځای شوی ، دزړه له کومی خوشالی او رضائیت خر گندوو! اودلوی خالق په دربار کښې عرض اوهیله کو و چه ځموږ دادمعرفت خاوند حکومت په گردو هغو ارمانو او آرزو گانو چه ځموږ دترقی اولوړتیا اوزر غونتیا او بختورتیا دپاره ئې په زړه کښې لری موفق او کامگار کړی .

پاس لنډی کرښی دیوه خپل ملی ادیب «اخلاص» په لاندی رباعی پای ته رسوم .

❀ ❀ ❀

که وطن ډك دبر قو نو په رڼا شی
چه د علم رڼا نه وی رڼا نه دی

که ئې تولی ژبی زده وی په دنیا کښې
چه ئې خپله ژبه نه زده گویانه دی

د پښتو معنوی ښایست

ښاغلی صدیق‌الله خان « رشتین »

دامسلمه خبره ده چه هره ژبه چه په‌دنیا کښې کمې اندازې‌ته‌رسیږی، اویاخه‌نه‌خه‌علمی، ادبی‌پنګه پیدا کوی؛ نوډېروخت غواړی، او په یوه کافی مده کښې دامدعا ترسره کیږی. دژبی دلوړ والی اوارتقا په لارکښې ډېر مراحل دی؛ چه هغه رو رودزمانې په مرور طی کیږی، اوژبه دکمال درجې ته نږدې کیږی. لمړی دژبی املا اوانشا صحیح شی، بیائی صرفی، نحوی، برخه میدان ته راوځی، وروسته ئی، مزایا او محاسن، عروض او قافیه، ښکاره شی. دغسی تدریجاً مطلو به کمال ته ورسیږی او په پای کښې دیوې علمی، ادبی ژبی په حیث خپل موجودیت ښکاره، او خرګند کړی. نمو ز ملی ژبه پښتوهم ددغه ارتقائی قانون سره سم، نن ورځ دارتقاپه دوره کښې داخله، او ورځ په ورځ مخ په پورته ځی. تراوسه پورې چه پښتو هیڅ هم نه لرل، نوداد‌پښتو ګناه نه وه، اونه دادپښتو دنه‌وسعت اوبی سرمایه توب‌دلیل‌و. فقط دومره وه، چه موږ ددی خوږې ژبی لوړتیا نه‌وه غوښتې، اوپاته وه. اوس چه ئې ژوند غواړو، نو داهم ورځ په ورځ خپل موجودیت اوجمال ښکاره کوی.

پښتووسیعه اوفراخه، اودلغت اوقواعدو، اصطلاحاتو له حیثه متمو له ژبه ده، سربېره په دې، ادبی وسعت ئې هم له چا کم ندی. دژبی ټول مزایا اومحاسن، یاپه بل عبارت هغه شیونه؛ چه ژبه پرې ښائسته او خوږه کیږی؛ هغه ټول په پښتو کښې موجود دی. دشعر دفن ټول مزیتونه، اوترا کتونه پښتو په پوره اندازه ښودلی شی. مطلب دادی چه پښتو دمحاسنو په میدانکښې ترنوروژبو وروسته نه‌ده‌پاتې. بلکه ترډېروژبو مخکښې ده.

زه اوس غواړم چه د پښتو دمعنوی حسن یو خو مثالونه وړاندې کړم، که‌خدای کړی وی چه‌دلو ستونکو خه لږ ډېرقناعت حاصل کړی شم. معنوی محاسن که خه ډېردی، امازه صرف په یو خو صنعتو نو چه هغه نسبتاً په هره ژبه کښې مقبول دی؛ اکتفا کوم.

۱ ـ حسن‌الطلب: حسن الطلب دې ته وائی چه یوشاعر دخپل ممدوح خخه، یوشی په ډېر ښه صورت، اوداسی طریقه وغواړی؛ چه دفصاحت او بلاغت پوره مراعات پکښې وکړی، اوداحترام اوتعظیم ټول شرایط هم په کمال وجه وساتی، لکه دا.

په دېوال هسکه شه خوله راکه
یوهمزو لتیا ده بل منت درته کومه
که خوله دې را کړه خه به وشی
زړه به‌می ښه‌شی خوله به‌بیا درسره‌وینه

❀ ❀ ❀

وګوری په خومره‌ښه طرز، دیار نه خوله غواړی. هم ورته خپله عاجزی، اوزاری ښکاره کوی، هم ورته خپله همزولتیا وړاندې کوی. داقا عده ده دهمزولی نه خوك خه نه منع کوی نوورته وائی « دهمزولتیا » لحاظ هم وکړه! اوځما زاری- اومنت‌ته هم وګوره، ستا هیڅ تاوان نه کیږی، صرف ځمابه زړه ښه شی، او تاسره به خپله خوله وی. »

دغسی یو بل ځای کښې شاعر، دیار خخه وړی زړه بیرته غواړی. زورئی ورسره نه‌رسیږی، او نه‌ئی په زور ترې غوښتلی‌شی. نوپه خومره، خوږ والفاظو، اوښه صورت کښې ورته وائی:

داځما ربوده زړه په بیرته را کړه
یاره‌نګړی امانت کښې خیانت‌خوك
(عظیم)

یو بل مثال:

دعیش او عشرت اسباب ټول جمع دی، هر خه پوره دی. مجلس جوړ اوتیاردی، خویوساقی‌نیمګړی دی غواړی چه ساقی هم راشی. نووګوری چه‌ساقی‌په‌خنګه ښه پیرایه کښې راغواړی، اوپه‌خنګه پسته ژبه دده‌دراتلو انتظار کوی.

باران ور یږی ، څڅواکی څا څی
نسیم را وا لوت سنبل پر ې نا څی
اسبا ب دعیش واړه مو جود دی
ساقی ته گو رو چه دی را پا څی
(عبدالقادر)

په فار سی کښ دحسن طلب مثال دادی :
شمع وگل وپروانه وبلبل همه جمع اند
ای دوست بیا رحم به تنهائی ما کن

❀ ❀ ❀

۲:ـ حسن التعلیل : دې ته وائی چه شاعر دیوه وصف دپاره داسی علت بیان کړی ؛ چه هغه په واقعه کښ علت نه وی ، اما دیوخاص مناسبت اولطافت له وجه ورته علت ویلی شوی وی لکه دا :
دنمر مخ چه ئې له مخه نه شرمیږی
ځکه هره ورځ په غرونو کښ پټیږی
(علیخان)

یعنی لمر چه هره ورځ په غرونو کښ پټیږی ، سبب اوعلت ئی دادی چه دیار له مخه شرمیږی ، نوځان ترې پټوی . که څه هم دادنمر د پټېدو واقعی دلیل نه دی ؛ مگر دشاعر پکښ دیار زیات حسن غرض دی .
بل مثال :
ځکه شوه ترزنگانه په وینو ډوبه
چه ئې ز ر که سمېده له پتا نه
(حمید)

یعنی زرکه چه ترزنگانه په وینوکښ ډوبه ده ، مطلب داچه پښی ئې سرې دی ، علت ئې دادی چه دیار دپتون سره ئې سیالی کوله ، څوك چه دخوبانو سره سیالی کوی ، نو دغسی به دغم په وینو کښ ډوبیږی .
بل مثال :
چه نظر ئې د گلرخ ساقی په مخ شو
دنر گس له لا سه وا وښته پیا له
(حمید)

یعنی دنرگس له لاسه چه پیاله واوښته علت ئې دادی چه دساقی په مخ ئې نظر ولوېد دهغه ښائست ته حیران شو ، اوله حیرانتیا نه ئې له لاسه پیاله واوښته . که څه هم دا حقیقتاً یوعلت نه دی ، اما شاعر ورته دیو لطافت په وجه علت وائې :

په فارسی کښ دحسن التعلیل مثال دادی :
تا چشم تو ریخت خون عشا ق
زلف تو گر فت ر نگ ما تم

❀ ❀ ❀

دزلفو تور والی یووصف دی . شاعر ئې علت دا بولی چه دمحبوب سترگو دعاشقانو وینی توی کړې ، نوزلفو ئې په ماتم کښ دغم تور رنگ قبول کړ . په دی کښ لطف دادی چه دیار زلفی همیشه دماتم په رنگ وی ، ځکه چه همیشه دعاشقا نو وینی تویوی .

۳:ـ تجا هل عار ف : دې ته وائی چه شاعر په یوشی کښ ځان ناخبره واچوی . که څه هم ورته معلوم وی مگر دی ځان ناخبره کړی ، غرض ئې یوه فایده یا یوه نکته وی لکه دا :
هیڅ پرې نه پو هېږم دادی زنه که مڼه د ه
خال دی دی دزنی که دانه د ه دمما نی
(خوشحال)

په دې تجاهل کښ دیار دزنی اوخال زیات ښایست مطلب دی ، چه سړی په تحیر کښ اچوی .
بل مثا ل :
داد دلبر مخ دی چه له شاله نیم لبدی شی
یازیړوټی نمر دی چه ښکاریږی نیم له غره
(علیخان)

غرض ئې ددلبر زیات حسن دی ؛ چه دی ئې په حیرانتیا کښ اچولی دی .

په عربی کښ د تجاهل عارف مثال :
با لله یا ظبیات القا ع قلن لنا
لیلای منکن ام لیلی من البشر
(ای دصحرا هوسو؟ ستاسو دی په خدای قسم وی راته ووائی چه لیلی ستاسو دجنس ده ، اوکه نه آدم زاده ده)
په دې تجاهل کښ غرض دمحبوب په حسن کمال حیرت دی .

٤ ـ مراعات النظیر : دې ته وائی چه په شعر کښ اقلاً دوه مناسب شیونه راوړل شی . یاډېر مناسب شیونه ، لکه دباغ سره گل ، اوبلبل ، غنچه ، نسیم مناسب اشیادی . مثال ئې دادی :
تن می گا ڼی زړه می شړ شم د ی
بېلتون تیلی سنډا دغم پرې گر ځو ینه
گاڼی اوشړشم ، تیلی اوسنډا ، داټول سره مناسب اشیادی .

بل مثال :

یاد مرگ بدې شیبې دی زور وری
یا شیبې دپشکال دبا را نه دی
(عظیم)

مر جو ڼا ځما د زړه تل را و باسی
در گو هر دیار د مینی له دریا به
(عظیم)

په لمړی بیت کښ شیبې، باران، پشکال، اوپه وروستی بیت کښ، مرجوڼا، دریاب، مرغلری سره تناسب لری .

په فارسی کښ دمراعات النظیر مثال دادی :

خیز که گل رشك رخ حورا شد
بوستان جنت و، می کوثر و، طوبی است چنار

❀ ❀ ❀

گل، باغ، چنار، حوره، جنت، کوثر، طوبی، داټول سره متناسب دی .

۵ ـ : ابتکار : داصفت که څه هم اصلاً په معنوی معدود محاسنو کښ نشته، مگر بیاهم یوزبردست حسن، او صفت شمېرلی شی . ابتکار دې ته وائی چه سړی یوداسی نوی مضمون راوړی ؛ چه دبل چادخیال لاس ورته نه وی رسېدلی ابتکار د شاعر د کمال قدرت، او دنازك خیالی، لوی دلیل دی . نودغه دی موږهم ددغسی یوڅوابتکاری مضمونو مثالونه راوړو :

خوب به ئې مدام لکه اوسی په مېږتون وی
پاتې په چامشه د او موغو ښو پور و نه
(عظیم)

دامشهوره ده چه هوسی په مېږتون خوب کوی مگر د دې دلیل بل چانه دی ویلی . یواځی (عظیم) ئې دلیل ذکر کړی دی .

وائی چه په هوسو داوموغو ښو پورپوری دی

همیشه په ویر کښ گرځی، دښکاری څخه ویریږی په بل ځای کښ خوب هم نکوی بی دمیږتون څخه، اوپه میږتون ځکه خوب کوی، چه دلته ئې میږی په وجود کښ گرځی، داخوب ته نه پرېږدی، ویښه وی. دامطلب بل چانه دی ادا کړی. بلکه یوبکر، اونوی مضمون معلو میږی .

کمینی که کمینه غلیم ته ښه وی
مړه به خلاص وی علیخانه له گور کښ
(علیخان)

دامشهوره ده چه گور کښ مړی راو کاږی . اما دامضمون په شعر کښ چانه دی ادا کړی. بی له دې شاعر څخه. نومعلومیږی چه دا یوابتکاری مضمون دی .

د کوڅې گوټ به دې پرې نږدم رقیب ته
افر یدی شوم ومغل ته خیبر نیسم
(علیخان)

عشقی مضمون دی . مگردلته په داسی پیرایه کښ اداشوې دی، چه بلکل نوی اویو بکر طرز معلومیږی .

داپه وچولی تورخال ځما دیار دی
که اذان لره ختلی دی بلال (رض)
(حمید)

دخال او دبلال تشبیه څه نوی شی نه دی . اماپه دې طرز چادامضمون نه دی ادا کړی، داطرز « چه دابلال په منبر ختلی دی، او که خال دیارپه تندی دی » بالکل یو نوی طرز. اوبکرخیال معلومیږی .

دغسی په دې ډول په پښتو کښ نور هم ډېر محاسن اومزایاشته. مگرټول دلته نشی بیانیدی، نوځکه می په دی اکتفا وکړه. نوربه امیددی بل وخت، بیان شی، یابه ورته د نورو پښتنو فکرشی .

کابل او ویونکی ئی

(۱)

پښتني شاعري

پوښتونکی : جناب هدایت الله خان نیازی - پنجاب

پوښتنه : آیا پښتو ټولنی ته معلومه ده ، چه موږ په پښتو ژبه کومه پښتنه شاعره لرو ، چه اشعار او دیوان یا بل کتاب ئې لیکلی وی ؟

ځواب : ښاغلی پوښتونکي !

ستا د پوښتنی ځواب آسان هم دی ، ګران هم ، ځکه چه د پښتو ملی شعر یعنی ناري اولنۍ خو اکثره د ښځو له خولې دی ، او دلنډیوا کثری شاعرانی ښځی دی .

نو له دې پلوه ستا د پوښتنی غبرګون (ځواب) ډېر اسانه دی .

امادې لامله ، چه زموږ دژبی د ادب تاریخ ندی کښلی شوی ، او د پښتو شاعرانو قیمتی اوغوره آثار ورک دی نو ستا د پوښتنی غبرګون ډېر ګران او مشکل ښکاریږی !

دا یو کال کېږی ، چه موږ په پښتو ټولنه کښې د پښتو شاعرانو او شعر په تاریخ لیکلو پیل کړی و ، تر ډېرو پلټنو وروسته د ډېرو شاعرانو آثار او اشعار او سوانح ترتیب سوه ، چه ژر ترژره به طبع او شوقمندانو ته به اهداء سی په دې پلټنو کښې زموږ د خوتنو پښتنو ښځو اشعار هم لاس ته راغله ، چه تفصیل به ئې په هغه کتاب کښې وسی .

مګر دلته له هغو څخه فقط یو یادول کوو ، چه تا ته ښکاره سی ، چه پښتانه په شعر او ادب کښې لکه ډېر شاعران او ادباء چه لری ، دغسی هم شاعرانی او ادیبانی ښځی لری ، چه دوی پخپله ژبه ، خوازه اشعار ویلی دی .

د پښتنو په ملی نکلو کښې ښځی پهلوانانی هم سته ، چه د دوی ناري زموږ د ملی شعر ګېنه ده .

مثلاً د آدم خان په نکل کښې (درخانۍ) او د فتح خان بریچ په نکل کښې (رابیا) او د توردلی په نکل کښې (شاهو) او د ظریف په نکل کښې (مابۍ) زموږ ملی شاعرانی دی ، چه ناري ئې د ملی شعر ښې نمونې ګڼلی کېږی .

په دې دول موږ ډېر نکلونه نور هم لرو ، چه خو خو تنې ملی شاعرانی را ښیئی او اشعار ئې موږ ته په ملی عنعناتو را نقل شوی دی .

تر دې علاوه په پښتو ادب کښې یوه بله پښتنه مېرمن (سپینه) هم لرو ، چه دې پښتنې د هرات د جګړو ، او د شهزاده کامران او وزیر یار محمد خان د مېړانو په ستاینه کښې یو مفصل تاریخ کښلی ، او په خوازه شعر ئې نظم کړی دی ، چه د شعر نمونې او نور احوال ئې موږ د پښتو شعر او په کتاب کښې راوړی دی ، او ژر به چاپ او نشر سی .

په دې دول اوس لنډ ستاسی د پوښتنی ځواب ولیکل سو د پښتنو شعر او د کتاب د خپرېدلو انتظار وکړه .

« حبیبی »

بناغلی

پرسان : تمناست پښتو ټولنه شرح دهد که کلمهٔ بناغلی چه معنی دارد . و در کدام مواقع استعمال میشود واملای آن چطوراست ؟

(کابل - غ ، ر)

جواب : درین تازگی‌ها که غنچهٔ حیات زبان ملی‌ما روبشگفتن است ، درروز نامه‌ها وجراید و مجلات کشور عزیز کلمهٔ(شاغلی)شیوع وترویج یافته بااسمای نویسندها وغیره بنظر می‌رسد .

خیلی خوب .... ! اما چون املای آنرا غلط کرده‌اند ، بنابران طرف اشتباه واقع‌شده است .

درروز نامه‌ها این کلمه یعنی (شاغلی) به‌شین‌سه‌نقطه دار نوشته می‌شود، وهرچند کنجکاوی نمودم این کلمه را به(ش) سه نقطه‌دار درپښتو ندیده ونه بمعنی آن درین چنین مواقع‌فهمیدم .

بلی- اگربگویم که‌مرکب از دوکلمهٔ (شا) و (غلی) است، البته تفصیلش چنین خواهد شد، که (شا) در پښتو معنی(پشت،ظهر) و (غلی) یعنی ازجهت بیم و هراس پنهان‌شده، پس معنی‌ترکیبی این کلمه (پشت‌پنهان شده) خواهد بود .

درینصورت به‌عوض اینکه‌ممدوح‌را وصف‌کرده باشیم تحقیرمی‌شود، لهذا مجبوریم که این‌لغت‌نوساخت‌را از کلمهٔ (بناغلی) ماخوذ ومفرس بدانیم .

مگرنی - بهتر است که به (ښ) پښتو تحریر نموده تابااین اشکالات مواجه نشویم .

تاجائیکه معلومات داریم کلمه (بناغلی) به‌ښین پښتو درین‌زبان بمعنی ممدوح ودارای صفات خوب وعزیزالقدر وغیره‌است که درپښتوبرای اشخاص عموماً استعمال کرده می‌توانیم ، واین کلمه بجای (آقا) وموسیو ومستر که درزبان‌های دیگر موجود است، آورده می شود .

ولی‌برخی ازنویسندگان دراستعمال بیچاره (بناغلی) از غلو وافراط کار گرفته . وآنرا با نباتات و جمادات هم میخواهند بنویسند مثلاً در یکی از مطبوعات بنظرم خورد (شاغلی روغن) پس از تمام نویسندگان محترم تمناست که‌این کلمهٔ پاك زبان ملی را به سوء استعمال نیالایند. آنرا در موا قع خود به املای درست (بناغلی) بنویسند .

این‌بودشرح (بناغلی) که‌بجواب‌پرسان شمانگاشته‌شد

(عبدالروف بینوا)

گفتار سودمند

اظهار میل ورغبت مسرت در جنبش های ملل واقوام اجنبی‌وغیره ولو در صورتیکه این قبیل جنبش ها بقیمت مملکت خود ایشان صورت گیرد یکی از جملهٔ امراض سیاسی بشمار میرود .

(بسمارك)

افسانهٔ کابل

بیروونکی پښتنی

دښاغلی محمد اعظم خان ایازی ترجمه

په نو واشعارو اوقصو کښې یو ډول تریژدی بولی ، یعنی بیروونکی اوهائیل قصص ، دا ډول قصې داروپا په ادب کښې شهرت لری ، چه موږ لاندی قصه له خارجی مطبوعاتو څخه په لږ تغیر پښتو کوو ، داقصه موږ ته ښئی ، چه انسان کله کله دوهم او گمان په سبب ډېر خطاوزی ، او خپل وهم دی بیروی .

(۱)

بتروویچ داواقعه په خورا رېزدولی ژغ او ځلبلاندی اوژړمخ ، خپلو دوستانو ته وکړه :

په ۱۸۸۳ کښې د اختر شپه ډېره تیاره وه ، زه دخپل یوه دوست په کورکښې په یوه ټولنه کښې تردېره پوری ناست وم ، او باید په دغه تیاره هم د شپې کورته تلای وای .

دغه وخت دیوه ښار په یوه داسی کوڅه کښې زما کورو ، چه په ښار کښې ترټولو کوڅوتیاره او بیروونکی وه هر کله چه زه به دهغې څخه تېریدم ، بیروونکی خیالاتو به زمادماغ پریشان کاوه ، دنن شپې په ټولنه کښې آخری جمله ، چه ماواوریدله ، هغه زمادخپل ځان په باره کښې وه ، ځکه ما خوب لیدلی و چه د نامتو فیلسوف (سپینوزا) روح ماته داسی وایی .

« ستامرگ نژدې دی ، ژردخدای تعالی په حضور کښې توبه وکه ، » زه و بیریدم ، بیا می سوال ځنی و کی ، « لږ څه مفصل ئې ووایه » « ستاژوند ختم شوی دی ، اوس توبه وکاږه » دا زما د سوال دو باره جواب و .

دې خبری او د مرگ خیال به تل زه بیر ولم ؛

اوپه یوه عجیبه ادابه ئې پرما اغېزه کوله ، نونن شپه چه دلته بیا د دغه خوب ذکر وشو ، زه له دې ټولنی په بیره کښې وتښتېدم اودخپل کورولورته روان سوم ، پورته طبقې ته ورسیدم ، د خپلی کوټې ورمی خلاص کی ، او د نه ننوتم ، په دی وخت کښې هم دیبری په سبب زما حال ډېر بدو ، معلومیده چه غوزا رېږم ، کوټه توره تیاره وه ، هوا دباندی تېزه چلېدله ، اود کوټې کړکی ئې خرپولې داسی معلومیده ، چه عناصرهم د بیری په حال کښې پریشان دی !

ما په رېږدېدلی ژغ ورووروویل . « که د (سپینوزا) پیش گوئی رشتیاوی ، او دې سخت زړه فیلسوف روح رشتیاویلی وی ، نو بس نن زماخاتمه ده ، اوداماتم کوونکی هواوی به زماماتم کوی ، اوتوری اوریځی به زما دماتم کمبلی غوړ وی . افسوس ! زما ژوند ..... ! »

(۲)

ما اورلګیت ولګاوه ، اودبیخودۍ په حالت کښې مې په لوړ آواز ناری کړه ، «افسوس» اودوروخواته وزغاستم تول بدن مې رېږ دېده ، ورته چه ورسېدم ، د بېرۍ مې خپلې سترګې پټې کړې ، ما په کوټه کښې څه و لیدل ؟ وګورې ! اوس هم زما بدن وېښتان جګ ولاړدی ، او زړه مې دربېږی ، د کوټې په منځ کښې د مړی تابوت پروت و ، او سور پوښ ئې پر اوار کړی و ، د صلیب طلائی نښان باندې پروت و ، فقط په یوه نظر مې ورته وکتل ، لیکن دا عجیبه خبره ده ، چه دهغه هر ه حصه ماته ښکارېده اوترنن پورې ئې نخښه زما په ذهن کښې پرته ده .

دادیوې نجلۍ تابوت و، ولی چه ډېر کوچنی و رنګ او زینت ئې هم هغسی و ، لکه چه دنجنو د تابوت وی .

(۳)

زه د غشی په شان ځنې ته ورسېدم ، او د سیلاب په څېرتېزسوم یوې هولنا کی بېرۍ په ډېر قوت سره پورې وهلم ؛پرسرك باندې مې دبرېښناپه یوه پایه پورې لاسونه ټینګ کړه ، پایه په باران سره لنده شوې وه ، د واورې په شان یخه وه ، بدن مې لږ څه یخنی محسوسه کړه ، اوزماهوښ بېرته ځای ته راغی ؛ ماخیال و کی ، «که کوټې اوراخیستی وای ، یا کم غل پکښې ولاړوای یا کم زمری پکښې ګرزېدلای ، یائې چت دفعتاً نړېدلی وای ، بیا به هم زه دومرۍ حیران شوی نه وای » لیکن : لانې ، یوپوره تابوت ! ددې څه معنی کېدلای سی ؟ هیڅ زما په فکر نه راتله ! چه زما کوټې ته تابوت ولی راغی ؟ چاراوی ؟ چادیوې دولتمندی نجلۍ تابوت، چه په سرو اوسینوزرو آراسته دی ، دیو معمولی غریب نوکر کوټې ته راوی ؛ ولی ئې راوی ؟ او داهم معلومه نه ده ، چه هغه خالی دی ، یالانې پکښې پروت دی ؟

در وازه خو قلفه وه ، مابیا خیال و کی ؛ کلی خو یوداسی پټ ځای ایښوولې شوې ده ، چه بیله زماخاصو اشنایانو بل چاته معلو مه نه ده ، نا ممکنه نه ده ، چه دا دمر ګ تحفه کم دوست زما دپاره مهیا کړې وی، ښائی چه کوم مزدور په غلطی سره راوړی وی ، لیکن که کم مزدور راولې وی ، نو بیله مزدوری اخستلو ، ولی تی ؟ اوزما کره مزدور تابوت ولی راوړی ؛ بیا زما پر ېشان دماغ ته بل خیال راغی ، ناممکنه نه ده چه دا کار دهغه روح وی ، چه نن شپه ئې ماته دمر ګ خبر را کړی و ښائی داتابوت ئې زمادلانې دپاره راوړی وی ! لیکن داناممکنه ده ، ولی چه تابوت زما ترقد کو چنی دی !

(٤)

باران اوس بېرته شروع سو ، ګویا زما دقتل دپاره د اسمان څخه حملې کوی ، هوا دو مرۍ تیزه وه ، چه زما کوټ ئې الوزاوه ، زه یخی لوندسوم ، ما په خپل زړه کښې وویل ، « زه باید د خپل ځان دپاره یو تا تو بسی پیدا کم » لیکن چیری ! په کوټې کښې! چه تابوت پروت دی، ناممکنه ده ، که زه هلته ولاړم نو یقین دی ، چه لېو نی به سم ، لیکن په دې باران اویخنۍ کښې پرسرك درېدل هم مشکل دی ؛ زه دستی دخپل یوه دوست د کورخواته رهی شوم ، هغه هم په یوه تنګه ، تاریکه کوڅه ، په یوه کوټه کښې اوسېدی ، ورمې وټکاوه ، چا جواب رانه کی، په یوه تاخچه کښې مې لاس وښوراوه ، کلی مې پیدا کړه، قفل مې خلاص کی ، دننه ننوتم .!

زما کوټ لوند شوی و، ومې کیښې ؛ د کوټې پرفرش مې واچاوه ، په تیاره کښې مې پښه دیوې چوکۍ څخه ومښتله ، پرهغې باندې کښېنستم ، تیاره ډېره وه ، هیڅ نه ښکارېده ، هواتېزه وه ، کړ کۍ کړ پېدې ، د کلیسا و زنګونه داختریه خوښۍ وهل کېدل، مادجیب څخه اورلګیت راویوست ، اویوخلۍ مې ولګاوه !

افسوس ! دلته هم بې اختیاره زمادخولې څخه یوه چیغه راووتله ، زه دلېونی په شان وتسښېتدم او د کوټې دباندې ودرېدم ؛ دلته ئې هم تابوت ایښی و ، لیکن زما د کوټې دتابوت څخه لوی و، اوپه توریوښ پټو، توریوښ تردې هم زیات خوفناك کړی و .

ما وویل ، « دلته هم تابوت » ، معلو میږی ، چه

دازما وهم او خیال دی ، شاید زما نظر غلطی کوی ، آیا دامکنه ده ، « هرچیری چه زه ولاړسم ؛ هلته زما داستقبال دپاره یوبیروونکی تابوت باید چه پروت‌وی ! ضرور نن زماپه پلوکښ نقصان پیداشوی‌دی، هرچیری چه ځم ، هلته تابوت پروت وی ، ضرور زه لیونی شوی‌یم ، دلیونتوب سبب صاف ښکاره‌دی، هغه منحوس خوب ، او دسپینو زا شیطانی روح زما دماغ را خراب کړی دی .

زه ستړی‌شوم اوپرمځکه کښېنستم ، دواړه غوږونه می‌پەزوره پەلاس‌ومښل ، اوومی‌ویل «اې خدایه !څه‌وکم چیری ولاړسم ، افسوس ! زه خو لیونی سوم » دا چه می‌وویل ، بی‌اختیاره می‌ترسترگو اوښکی‌راغلې ، نزدی‌و چه سرمی مات سی ، زما پەپښو کښ طاقت پاتەشوی نه‌و، دباران‌داسی زورو ، چه‌پناه پەخدای ، زماتول بدن دیخ پەسبب ریږدیدی، نه‌می‌پرسر خولی‌وه ، نه‌می‌پەځان کښ کوټ و ، زه دهغو داخستلو دپاره کوټې تەهم نسوای تلای ، ولی چه‌هلته . . . آه ؟ ډېر هولناك منظر اوډېره بېره وه !

(٥)

زما دسر وېښتان دغشو پەشان ودرېدل ، سړه خوله می‌دتندی څخه وبهېدله ، که څه‌هم اوس زما کامل یقین شوی‌و ، څه‌چه زماسترگو لیدلی دی هغه‌فقط دیواعصابی مرض نتیجه‌ده ، اوفقط وهم اوخیال دی ، پەحقیقت کښ هیڅ هم نسته !

اوس‌څه وکم، چیری ولاړسم، ډېر ځله می داسوال بیا تکراراوه، ناڅاپه‌یوبل دوست (گوډسارول) پەیادراغی هغه اوس ددا کتری سند حاصل کړی و ، اوماته نزدې اوسېدی ، دی هم زماسره پەهغه ټولنه کښ شریك‌و .

زه بېله خوفه دهغه دکور وخواته رهی سوم ، دهغه کوټه دسرای پەلوړه طبقه کښ وه ، لیکن‌زه لاپه ځینه کښ‌وم ، چه‌دیورته څخه می‌یوه خوفناکه چیغه واروېدله ، داسی معلومېدله ، لکه چه یوسړی دپرېشانی پەسبب دې خوا اوهغی خواته زغلی ، اوپه زوره پښې پرمځکه وهی فوراً می‌یو بیروونکی‌زغ غوږته راغی؛ « مرسته،مرسته، رازغله ، رازغله » :

اوددې اواز سره‌سم یوسړی پەډېر بدحالت پورته کښته کېده ، زما څخه ومښت :

مابی‌اختیاره چیغه کړه ، « ساروفه ، ساروفه ! داته‌ئې څه‌وشوه ؟ » ولی چه داسړی زما دوست و !

پەځینه کښ لږ څه‌رڼاوه ، ساروف‌چه‌راغی دلېو ښانو پەډول‌ئې زماموتان تېنگ‌ونیول ، ټول بدن‌ئې رېږدیدی مخ‌ئې ژړ و دسترگو څخه‌ئې عجیب قسم دهشت معلومېده ماوویل « ساروفه » «ریکیوف یم » دده رېږدېدلی آواز پورته‌سو ؛ «ریکیوفه» داته‌ئې واقعی داته‌ئې ؟

ده پەغور ماته وکتل ، اواوږده ساه‌ئې وکښله :

دا پەتاڅه شوی دی دمړی پەشان ژړ سوی ئې «اف» ستا شکل څرنگه خوفناکه شوی دی ؟

دخدای دپاره ، ووایه ،څه دروسوه،ده وماته‌پەغورو کتل اووئې ویل ، « ستا داحالت‌څرنگه سوی‌دی بیخی‌دمړی پەشان معلومېږې » .

هغه وویل ، «ودرېږه ، لږ څه می‌پرېږده ، چه ساه وکاږم آه ! زه‌اوس څومړی خوشال‌یم ، چه‌ته‌می‌ولیدلې نزدې‌و ، چه مړسم ، ایا ته‌یقین کوې ، هغه وخت چه زه پەخپله کوټه کښ داخل شوم ، څه‌خوفناك‌منظرماولیدی ؟ دکوټی پەمنځ کښ یوتابوت پروت‌و» زما پرخپلو غوږو باندی باور نه راتی ، داخو هوبه‌هو زما سرگذشت‌و : تابوت! داڅه وائې ؛ هغه‌پەښکاره وویل، «بلې، تابوت»

زه بېرېدونکی نه‌یم، ددې منظری څخه شیطان هم بې‌هوښ کیږی ؛

زه‌بیا دبېری څخه ورېږ دیدم ، مابه ډېرمشکل سره خپلی دوې مشاهدې وده‌ته بیان کړې، ماوویل، «خدایه ! داخرنگه دبېری حالت‌دی، چه‌ماپخپله کوټه کښ اودخپل دوست پەکوټه کښ‌تابوت ولیدی، اواوس‌ته‌وایې « چه‌ما هم‌پخپله کوټه کښ‌تابوت ولید »

(٦)

موږ دواړه د سرای پرچار چوب باندی و لاړو اوپووبل‌ته موکتل، اودواړه حیران ؤ ، گمان موکاوه چه‌موږ بیده‌یو، ځکه چه‌یو دبله مویه سوکانو سره وهل چه‌معلومه یې کو ، چه‌په رشتیا موږ بیده یوکه ویښ ؟

ساروف وویل، «نه‌خیر ؛موږبیده‌نه‌یو»موږ دسوکانو پەویلو پوهېږو ، ضرور ویښ یو ، موږ چه کم تابوت

لیدلی‌دی، ضرور هغه‌تابوت دی، داز موږ وهم او خیال نه‌دی، اوس راوښیه، چه‌څه‌وکو؟ »

موږ اوس د سرای وځینوته راغلو او هلته و درېدو اوترډیری مودی موفکر کاوه،چه‌څه وکو؟ اخر موفیصله وکړه، راځی چه‌همت وکواوپورته ولاړسو ، اونوکرویښ کواوکوټې ته‌ولاړسو .

(۷)

نوکر څراغ په‌لاس کی نیولی‌و، دننه ولاړ ، موږ ورسته ورپسی ولاړو، تابوت دکوټې په‌منځ کښ‌په رشتیا پروت‌و، اویوورېښمین ټوکرپرغوړولی و، پرڅنډ و باندی ئې‌دګلا بتونو کار کړې‌و، اوپرهر، هرځای ئې د سپینو زرو ګلان وه، نوکرچه تابوت ولیدی، دصلیب نښان ئې پرخپله سینه باندی ولګاوه ، زما دوست په‌درېد لې ږغ وویل. « اوس موږحقیقت معلومو لای‌سو » دی بیخی رېږدیدی‌ولی باید وګوری، چه څه معامله ده، آیا تابوت خالی‌دی؟ یا کم‌لاښ پکښ‌سته ؟ آخر ساروف همت وکی اوڅوقدمه له‌مخه‌ولاړ، دتابوت سرپوش‌ئی واړاوه او پرشا ولاړ؛ زه‌تیټ‌سوم، ومی‌لیده چه‌تابوت خالی‌دی، اودلاښ پرځای یوه‌لفافه پکښ پرته‌ده .

(۸)

زمادوست لفافه پورته کړه ، اودرېږ دیدوپه حالت کښ ئې لفافه په‌لاس خلاصه کړه، په هغی کښ یوکاغذ پروت‌و ، اوداعبارت پرلیکلی شوی‌و !

زما ګران ورور ساروفه !

تاته ښه معلومه‌ده، چه‌زمامالی حالت څومری خراب شوی دی، لنډه داچه زماورور ډېوالی شوی دی، سبا دده ټول مال لیلامیږی، تاته‌معلومه‌ده، چه‌دده په دکان کښ بیله تابوتونوبل هیڅ‌شی نسته، ولی چه دی تابو تونه د ټول ښار دپاره جوړوی، اوس زموږ دپاره بیله فقراو لوږی بل‌هیڅ شی‌نه‌دی پاته‌سوی، موږوروسته ترمشورې دافیصله کړې‌ده. چه‌هر څومره تابوتونه چه‌نن شپه ایستل کیږی ، باید چه وئې باسو، چه د لیلام څخه وساتل سی ، لکه چه د ټولو دوستانووکوروته مویویو تابوت استولی دی ، ستاسی کورته موهم یوتابوت درواستاوه ، تاسی خاطر جمع اوسی، څوورځی وروسته به‌ئې یوسو ، موږپه ستاسی ددې‌مهربانۍ ډېرمشکوریو(ستاسی‌مخلص ګوډین)

تردې واقعی وروسته ، ماتردرو میاشتو پوری دخپلو اعصابو علاج کاوه. تراوسه‌می داحال‌دی، کوم وخت‌چه خپل‌کورته راځم، نوپه دروازه کښ‌دېړی په‌سبب‌درېږم اوپه کوټه کښ‌می دتابوت منظره په یادراځی ! ....

څه‌وکم ـ ؟

په دېوال کښ کوږ سوری وی
خو ښکی ځینی خو ځېږی

رنګ‌دګل خوند ئې دپیا زوی
هر سړی باندی غولېږی

ته بې بم بو لې ځان باز کړی
هر مرغه ځینی وېرېږی

ټول بې داړو داړ ور شوه
زې کنډاس لیدلای نه شم

(بېنوا)

تابلوی عبرت

بناغلی محمد علی خان متعلم اعدادیهٔ ٤ حبیبیه

شبی است چون زلف لیلی تار، سکوت عمیقی حکمفرما است هزاران هزار ستارگان در دامان لاجوردی فضای بیسرو پای با کائنات مشغول چشمك زنی و عشوه گری است این ستارهای شوخ چشم هردم برمزو فسونی مرامتوجه خویش میسازند و مجبورم میکنند تا زمانی بسوی آنها خیره شده ولحظهٔ بدانها چشم بدوزم و فی الجمله غرق خیالات بی سروپائی شوم این قائق های درخشندهٔ دلفریب نقره فام هردم مرادربحرکبود وعمیقی که ساحلش ناپیدا است بطوفانهای غم وامواج حزن واندوه تهدید مینمایند، این ذورقهای مسحورخود بآهستگی درحرکت اند و مرا درگرداب یأس والم سر گردان میدارند ؛ نمیدانم چرا دچارطلسم جادوی این بیمروت ها گردیده ام ؟ نیرنگ این رقاصان شبینه مرا در پیچ وتاب بس عجیبی انداخته واین قطرات بیقرارسیماب مانند عالم ظلمت مرادر کرائی سیاه ومنحوس تخیلات تیره وتارکباب وکریاب ساخته روح بیچاره ام بیقراروناصبوراست هی میطپم و بیقراری دارم چرا این ستاره ها ی که در فضای تیره وسیاه مانند جرقهای برقی درارتعاش اند زوایای تاریك قلب بتنگ آمده ام راروشن و منور نمیسازند ؟

باد سرد خزان من بیچاره را مانند برگهای رنگ پریدهٔ درختان هدف وزشهای بیمروت خویش قرارداده لرزهٔ خوف و بیم را در اعماق قلبم می اندازد ، گویا این بی حیا نیز دست تعاون با دیو شب داده قلبم را تیره وسیاه کردن میخواهد .

شرشرآب فیرمانند جویبار ازخلال درختان بی برگ و بار سکوت وخموشی شب را بر هم زده پرده ها ی پر حرارت گوشم را در اهتزاز می آورد وحواسم را بیشتر پریشان میساخت - نمیدانستم که چرا اندوه گین وگرفته خاطر بودم ؟ درین حال صدای عتاب آمیز وجدان بگوشم گفت : خوب فکر کن مبادا که خطا وسهوی کرده باشی ! که چنین در شکنجهٔ عذابی !! پردهٔ خیال اعمالم را یك یك در برابر چشمانم صف آرائی نمود - آرزوها وخیالات دیرینه حتی امیدهای که بدل پرورانیده بودم در مقابلم مجسم شدند مگرهرچند درمیان آنهاخیره شدم چیزمطلوبرا نیافتم - دوباره غرق خیالات پریش اولیهٔ خود گردیده و ازین محل اندوه وخوف بسوی منزل رهسپار وپس از لحظهٔ وارد بستر استراحت شدم - غلط کردم استراحت کو ؟ گمان میکردم که بروی بستر خاك وخاشاك خوابیده ام وخارهای نیشتر مانند خیالی را به پهلو هایم بخلش میدیدم هی بروی بستر میغلطیدم وبیقرار بودم هرچندیده برهم می بستم خوابم نمیبرد ؛ خیرگاهی خواب لحظهٔ بیدارمیبودم واگرچشمانم بخواب میرفت دلم هوشیار میبود ، بدین منوال پاسی ازشب گذشت . درعالم خواب باشخصی دراطراف مزیت لسانهای مختلفه بحث وگفتگو دارم وبیهم اقامهٔ دلائل وبراهین می نمائیم مشاجره ومکالمه بطول انجامید یکی قانع نشدیم دیدم که آنشخص سرش را بلند کرده گفت « آقا نمیرنجی اگرچندسوالی ازشمابنمایم » گفتم خیر بفرمائید! پس وی شروع نمود بتکلم وپرسید : آیا خود جناب ادیب ، منشی ، ویا کدام شاعر زبردستی میباشی که مزیت یکزبان را بدیگر اثبات کردن میخواهید ؟ گفتم خیرهنوز شاعر وادیب نشده ام ، گفت خوب است ، بازپرسید که :

میخواستم اولاً از جناب اقدس پرسم که لسان مادری شما کدام است وتاچه اندازه بزبان ملی خودمحبت داریدمگر فراموشم شد.من ازشنیدن این سوال اوخودرا باخته ولرزه دراندامم افتادوچهرهٔ گلگونم مبدل برنگ زعفرانی شد ، میخواستم بگویم که زبان مادریم « فارسی » است مگر ازترس اینکه مبادا بپرسد که نام مملکت شما چیست ویاشاید اززبان فارسی سوالی کند وجواب قناعت بخشی داده نتوانم پس دلم چیزی میگفت وزبانم چیزدیگرمیخواست بگوید هرچند دلم راقوت میدادم که جوابش رابگویم مگر زبانم یارای تکلم نداشت حریف رنداز موقع استفاده کرده گفت بفرمائید چه میخواهید بگوئید شرم ننمائید وبگوئید زیرا زبان ملی ومادری هرکس جوهر آنشخص

است ، من اجازه میدهم که‌بکمال افتخار وگردن افراشته بآوازجلی نام شیرین زبان مادری خودرا برزبان آری تاضمناً بدانم که از کدام ملت ومملکتی وخون تو ازمواد کدام سرزمین ساخته شده است ـ اعتبار کنید که ازین سوال اوتکانی بخودخورده دوباره ضربهای داخلی‌عتاب آمیز وجدانم باضربانهای قلب آوارهٔ پریشانم هم آواز گردیده بی‌اختیار میلرزیدم . من‌برای دومین مرتبه تمام قوای خودرا جمع نموده صد دل‌را یکدل کرده خواستم بگویم زبان ملی و مادریم (خوزه پښتو ده) مگر لکنتی درزبانم پدید آمد وازفرط شرمندگی اشك از چشمانم سرازیرشد زیرا بدبختانه که‌زبان پښتو راهم مانند زبان فارسی‌بطوریکه لازم است نمیدانستم؛ چون شخص‌مذکور اینحالت‌را ازمن مشاهده نمود خیلی متفکر ومتحیر شده گفت «آقا عفو میخواهم ببخشید دیگر مزاحم شما نمیشوم اما برای آخرین‌مرتبه سوالی دیگردارم که‌موقوف باجازهٔ جناب عالی است ـ اشك ازدیدهایم پاك کرده بزبان گرفته وگلوی پرعقده گفتم بفرمائید، آنکس گفت محض میخواهم سبب گریهٔ شمارابدانم ؟ گفتم خوب است‌بپاس خاطر شما اینقدر میگویم که گریه واشکریزی من عبارت است ازیکعالم خجالت و شرمندگی مسئولیت درپیشگاه وجدان، ملیت، وطن وبالاخره زبان مادری وملی‌ام که‌آنرا نمیدانم و درنزد شما عاجز آمدم لذا ازیکطرف روئی نداشتم که بجانب شمابلندش‌میکردم واز دیگرطرف لطمه‌های وجدانی خاطرم را جریحه دار مینمود که‌ازبسیاری خجلت‌سراپا آب‌شدم این‌بودکه عرق ازاندامم وسیل سرشك ازچشمانم جاری گردیداین بود سبب گریهٔ‌من .

آنشخص چون این کلمات را از من استماع نمود روی برگردانیدو رفت وبعداز لحظهٔ باپیر مردی بلندبالا وتنومند باحاسن سفید وقشنگیکه دهان چون غنچه اش را احاطه مینمود وابرو های کشیده وخوشنمودش که زیب چشمان درخشان وفهمیدهٔ اورا دوبالا نموده بود مراجعت کرده مرا بآن پیر دانانشان داد وگفت«این‌است جوان بیخبرت مغرور وبیخبرعصر، اینست نمونهٔ عبرت وسرمشق جوانان غافل قرن بیست که باید دیگران از وی عبرت وپند گیرند که زبان‌مادری خودرا نمیداند ودم‌اززبانهای غیرمیزندحالانکه بدون چند کلمات محدود از هر یکی که‌می‌لافد بیشتر نمی فهمد ودر حالیکه خود کور است میخواهد دیگران رارهنمائی نماید، این‌جوان وامثال آن نمیتواند که کاری‌را ازپیش برند وملتی خواب‌بردهٔ را ازخواب گران غفلت بیدار سازند .

پس‌از دقیقهٔ چند که‌آندومرد دانا بمن خیره خیره میدیدند روگردان شده خواستند بروند من‌قصد کردم تاعفو خواهم شاید مرا هدایتی دهند که دفعتاً اطراف وجوانبم‌را ظلمت وتاریکی‌فرا گرفت وآنهاناپدیدشدند من درحالیکه‌اشك‌میریختم وبرسهوخود تأسف‌میخوردم چشمانم هنوزدرتجسس آنها درحال مأیوسی خود سرانه دورمیزد که‌درقهر ظلمت‌وسیاهی سهمگین شب‌دفعتاً تابلوی شاندار شاه‌جوانبخت اعلیحضرت محمدظاهرشاه که‌درین دل‌شب‌در هوامانند قرص آفتاب میدرخشید خانهٔ‌چشم‌ودلم راروشن نمود وروزنهٔ امیدی بازبرویم بازشد درین فرصت بازآن پیر دانش ازآواز خوشش سامعه ام را نوازش داده بادست توانای خود بسوی تصویر تاجدار افغان اشاره کرد وگفت«اینست یگانه احیا کننده ورواج دهندهٔ زبان شیرین‌پښتو ، این یگانه فردفریدی است که‌روح درقالب لسان مردانهٔ این سرزمین مردزادمید وآنرا همسروهم قطار لسانهای زندهٔ ملل حیهٔ دنیا گردانید ودوباره این گنج بی‌نظیر خدا داد افغانیان راکه از سالیان درازی گمنام وبی‌نشان بود ودیری نمی گذشت که از صفحهٔ دنیا محوشودوراه گمنامی‌ونیستی‌راپیش گیرد سرراست شاهراه، وجود وپایداری‌نمود وآن‌را ازدستبرد حوادث روزگار حفاظه کرده فخر بس عالی رانصیب افغانیان گردانید» این بگفت ومن دوباره خود را در عالم ظلمت و تاریکی دریافتم که‌ناگاه لوحهٔ دیگری درمقابلم قرار گرفت باز آن پیر خرد در حالیکه خودش را نمیدیدم بمن بانگ زدو گفت‌متوجه‌شو !!! بسمت‌لوحه دیدم دستی باانگشتان باریك خوشرنگ وزیبابروی لوحه بخط جلی‌بیتی نوشت که‌از هر کلمهٔ آن‌جداگانه نورمیدرخشید ودرحالیکه کلمهٔ آخربیت را تمام نمود دیگر آندست زیبا راندیدم چشمانم رامالیده خواندم که نوشته بود :

(به‌پیش پانمی بینی‌چه افسون است تحقیقت
زبان‌خود نمیدانی‌چه‌نیرنگ است‌عرفانت)

شکوفه

ازموالید عجیبه



عکس بزغاله ایست عجیب الخلقت که درقریهٔ سرای سنگ مربوط حکومت کلان تالقان تولدشده ودارای هشت پا ودودم وچهار گوش وچهار چشم ویك تنه میباشد ، بزغالهٔ مذکور ازمادر زنده تولدشده اماصاحب بزازدیدن جسم عجیب و صدای او به دهشت افتاده فوراً ذریعهٔ کارد سرش رابریده است .

یونس

عبدالرؤف « بینوا »

یونس دپښتوله هغو پخوانو شاعرانو څخه دی، چه هیوز د کلید افغانی په‌چمن بینظیر برخه کښ دده دشعر منتخبات کښلی دی .

یونس دیوه ښه اوبشپړدیوان خاوند دی ؛ چه‌نسخې ئې ډېری لږ میندلی کېږی ، اویوه نسخه ئې خورا په‌ښه خط اومطلالیدلې شوېده ، چه‌په‌پېښور کښ‌دفیض‌طلب خان توپچی باشی په امر په (۱۱۷۶) کال‌زین الدین نومی لیکلې ده .

یونس دخوشحال خان خټك معاصر ، اودرحمان بابا دمکتب یو تکړه شاگرددی ، په شعر کښ ئې هغه‌سلاست اوروانی اوجوش‌سته، چه‌درحمان‌بابا په کلام کښ ئی بهترینه نمونه میندله کېږی .

یونس خپلی بدلی‌ټوله درحمان بابا په‌پیروی ویلی،او دهغه‌اوی استادښه‌تعقیب ئې کړی دی، مثلاً رحمان‌باباوایی:

زه رحمان‌دعشق‌په‌رنځ کښ‌هسی‌خوښ یم
چه می نشته په دوا باندی غرض

یونس دغه مضمون په دې ډول ادا کړی دی :

ستادعشق په‌درد، دردمن‌ښه‌یم دلبره
چه ذره می په دوا نشته غرض

یونس هم لکه رحمان بابا دخوشحال خان خټك‌سره په شعر کښ سیالی‌اوهمسری کوی ، اووایی!

حقیقت ئې ویونس و ته څرگند دی
ډېر غرور دی پخپل شعر خټك نه کا

یونس دخپل استاد رحمان بابا مرثیه ویلې ، اودهغه دابدی فراق په ارمان ئې‌داسی غلبلې کړی دی .

چه پیدا له اشنایی سره هجران شو
ځکه داغ می‌په خاطر باندی ارمان‌شو
له رحمانه فیض یاب عبدالرحمان شو
چه‌له دې سرایه په‌نوی سرای‌مهمان‌شو
د پښتو شعر ئې هسی نامه یو وړه
چه خبرئې په اشعار ایران توران شو
پر لذت شعر به څوك کاندی یونسه
چه‌په مرگ ځنی خاموش عبدالرحمن شو

دیونس دعمرپه باب کښ څه معلومات نلرو ، فقط دده له ویناو ښکاره ده ، چه دځلمی توب دوره ئې تېره کړې اوپه‌زړتیا کښ‌مړدی ، له دغوبیتوڅخه ئې موږ دډېر عمر استنباط کوو :

تللی عمربه می را شی که ته را شې
گرچه نه را ځی بیا عمر د شباب

بل ځای‌وایی :

مهر دبوسې که په یونس وشی له یاره
زوړبه‌دحیات په‌اوبوسردسره ځوان شی

ځکه چه دده داستاد رحمان بابا ژوندون تر (۱۱۱۸ه) پوری یقینی دی‌نوموږ داتخمین کولای سو ، چه یونس تردغه وخت‌وروسته هم ژوندی و ؛ اودزړ تیاپه عمر کښ وفات شوی دی ، نو ښائی چه دزوکړی وخت ئې هم د (۱۰۵۰ ه) حدود وټاکو .

یونس یو عالم او پوه سړی و ، په نحو، صرف معانی ، بدیع ، طب ، فقه تفاسیر اونورو ادبی علومو کښ ئې مهارت درلود، دده له اشعارو څخه دده د علم لوړه مرتبه ښکاره کېږی !

دیونس مسکن ندی معلوم، فقط په خپلواشعارو کښ ئې یو ځای «ډکه» یاده کړې‌ده ، نوښکارېږی ، چه دخیبر په شاوخوا کښ اوسېدی :

پیادگان ، کوټوال،رهدارلیونی‌سپی دی
پرډ که دی خدای څوك‌نکابرابر

دیونس اشعار له ښومنابعو او بدابعو ډك دی ، اکثر بدیعی منابع ئې په‌دیوان کښ لیدل کېږی مثلاً :

ارسال المثل

عاشقی می لکه لمر هسی ښکاره ده
پټېدی په گوته نشی لمر ځما

تقسیم

زه‌له جرمه ستړی نه شوم ته له‌فضله
داځما رسم دستور دی دغه ستا

حسن تعلیل

په یو خال چه یو په لس شی عجب ندی
که دوه خاله شی شمېره شی لس په صد

لف و نشر غیر مرتب

توری زلفی ،شنه خالونه ، سره رخسار
شنه طوطیان دی ،سره گلونه تورښامار

تقابل

په اهاړ تر سپینو گلو سپینی واوری
په څله تر سرو گلو نو ، اور بهتر دی

تضمین

عاشقان دی دسرو سترگو کشتگان دی
په زیارت د شهیدا نو گذر بویه(۱)

د محمد په نامه معما

خم چه یونس واړاوه څڅو یکی ځنی پریووت
هوښ له مدهوښ ورك کا اسم لوی ودهغه

دیونس په شعر کښ راز راز مضامین وینو ، اخلاقی اجتماعی ، عشقی بیتونه لری ، په تصوف کښ هم پوخ گډېږی ، مثلاً :-

چه دخپل وجود له حاله خبر نه یې
بېهوده په قیل وقال یې د افلاك

یونس دپښتنوالی پرډگرهم یو کلك پښتون دی، دده له شعره دده پښتنی احساسات ښکاره دی ، لکه چه وایی:

د میدان په ورځ چه تېښته کاله جنگه
پا تې هیڅ نشی باقی له نام ونگه
له میدا نه تېښته کار دی د زنانو
مرد به نه تښتی له غشی له تفنگه
چه دتورو په بر ېښنا ئې وار خطا شی
مورئې مه وی په هغه غولا ټی لنگه
دضرورپه ورځ به تېښت لکه گیدړ کا
چه همېش کاندی خوښی له نای وچنگه
د عزت صدقه سر ، د سر دنیا ده
مړنی په شرم سرور کا بېد رنگه

په دې ډول دیونس شعر جامع اوخوږ ، او لکه خپل استاد غوندی هر راز ښه ښه مضامین لری .

(۱) دوهم مصراع درحمان بابا څخه تضمین شوی دی

اوس موږ دده د کلام نمونه غوره کوو ، په دې نخښو کښ د «تازه» غزل په رشتیا سره یو مخصوص کیف او تازه گی لری :

یو غواړم له یاره ښه دیدن تازه تازه
بل در قیبانو ځانکندن تازه تازه
ځکه بلبلان چغار کوی په تازه گلو
نه به مدام گل وی نه چمن تازه تازه
یو زمان له مدح ددلبر ومه ودرېږه
تل دیارله وصفه کړه سخن تازه تازه
زړه چه درقیب ځما په بدسره ښه کېږی
مه کړه په آزار ځما دښمن تازه تازه
آه کوی له دله په فریاد له زړه گله
واوره له بلبله ښه گفتن تازه تازه
بل فکر می نه کېږی بې ستاله گفتگو یه
شیر شکری وایه له دهن تازه تازه
مه کړه په جفا سره آزار دبلبلا نو
څه خو په وفا کړه انجمن تازه تازه
سترگی می خیره شوې چه ولاړ ئې زه دی گورم
و کړه په دالوری آمدن تازه تازه
زړه د «یونس» چوی ستا د هجر له سختی
څه خو په خپل مهر کړه غمجن تازه تازه

❀ ❀ ❀

نور څه مه وایه بې مینی راته ته
کړه ویل د نازنینی را ته ته
له یوې گوتی دیارمی ثانی ندی
داچه ستایې ځنی ځنی را ته ته
کل آرام می غنم رنگ دلارام یووړ
څو به ستایې بشېرې سپینی راته ته
التفات می داسمان وماه ته لږدی
بس کافی یې ماه زمینی راته ته
دهجران تیارې می کسی بې لیدو کړه
را ښکاره شه ماه جبینی راته ته
که په رغم دتورومښکو راښکاره کړې
توری زلفی عنبر ینی را ته ته
بې وعدې به مچه در نکړم «یونسه»
او ښې څه که ژاړی وینی را ته ته

افتتاح رادیو

بناغلی محمد قدیر خان « ترهٔ کی »

اخیراً پس ازشش‌ماه نشریات امتحانی رادیو کابل بتاریخ اول حمل ۱۳۲۰ به نطق والا حضرت افخم ع ، ج سردارمحمدنعیم خان وزیر معارف (معاون صاحب صدارت عظمی) افتتاح شد .

درظرف این‌شش‌ماه بااینکه‌نشریات رادیو بصورت امتحانی بوده وادارهٔ نشریات آن بصورت اساسی‌به کار آغاز ننموده بودمعهذا دیدیم وشنیدیم که‌رادیو در جامعهٔ ما تا جائیکه آوازش رسید تاثیرات خوب وغیر قابل انکاری نمود .

ما از سالها میل داشتیم وسیلهٔ دریابیم تا بتوانیم بذریعهٔ آن آنچه آمال وآرزوهای اصلاح‌پسندانهٔ حکومت متبوعه است به‌ملت عزیزش تبلیغ وچیزیکه خودهم در دل داریم بسمع جامعهٔ نجیب افغان بدون واسطه و مستقیماً برسانیم تاآنچه انتظار میبریم زودتر ، خوبتر ومستقیم تر برآورده شود .

خوشبختانه این آرزوی‌مارا رادیوی کابل برآورد وحکومت متبوعه‌به‌صرف‌مبلغی کثیری این‌احسان بزرگ رابه ملت عزیز خود فرمود .

رادیوی کابل برای یك‌ملتی مثل‌ملت افغان که‌محتاج اخذ معلومات علمی ، تجربی وسائرمسائل عام‌المنفعه است میتواند خدمت بزرگ واساسی بنماید زیرا رادیو در هر زمینه ذخائر علمی وتجربی راجمع وآن را به‌عبارات عام وسهل درآورده برای استفادهٔ عوام ایراد مینماید .

رادیو به دهقان طرز زراعت به‌تجار اصول کمائی مشروع تجاری وبه‌ارباب‌علم واطلاع ذخائر علمی وبه علاقه مندان امورفامیل مخصوصاً زنان درس تنظیم خانه میدهد وهمه‌را ازمجاری امورداخلی وخارجی وتدابیر صحی‌وتربیهٔ بدنی مستفید میگرداند .

رادیوی کابل‌تمام این‌خدمات‌را بوجه احسن‌ایفاواز ناحیهٔ‌تاثیراتیکه درعامه‌نموده‌موجب‌امیدواری ماشده‌است .

مابوسیلهٔ این‌رادیو بعدازین میتوانیم عظمت تاریخی وطن ، اصالت ومزیت زبان‌ملی پښتو ، تعلیمات و هدایات نافعهٔ‌علمی، ادبی ، اجتماعی و . . . . . ، آهنگ های زیبا وخوش آیند موسیقی‌ملی وسائرموضوعات مربوط به ثقافت ملی خودرا به‌داخل وخارج اشاعه نمائیم گویا این رادیو واسطهٔ خوبی‌است برای اینکه‌نخستین بارصدای افغان را درین تمدن حاضره به سمع عالمیان برسانیم .

از روزیکه رادیوی کابل آغاز به نشریات امتحانی نمود ، تاکنون پیوسته منتظر تاثیرات آن در جامعه بوده ایم و در نظر ما رادیوی کابل با آن پروگرام محدود امتحانی خود در چند زمینه تاثیرات محسوس و غیر قابل انکاری نمود از قبیل زبان پښتو ، معرفی آهنگ های اصیل و نجیب نظم و موسیقی ملی ! باین صورت که رادیوی کابل در اثر نشریات پښتوی خود گوش های عوام را بیك باره گی معتادبه سمع کلمات و لغات و طریقهٔ جمله بندی و چوکات صرفی و نحوی زبان پښتو گردانید چنانچه بارها بر خوردیم با اشخاصیکه گفتند در آغاز نشریات رادیو بخوبی نمی‌توانستیم ازخبرهای پښتو استفاده کنیم ولی اکنون سامعهٔ ما بحدی معتاد با زبان پښتو شده است که درفهم

مطلب آن کمتر دوچار زحمت میباشیم .

البته این قدرموفقیت درین مدت کم برای رادیو بسیار بزرگ است و امیدواریم در آینده که نشریات رادیو هم نسبت به نشریات امتحانی بصورت اساسی تری تعقیب می شود حائز موفقیت زیاد تری گردیم و برای این مأمول بزرگ ملی خود (زبان پښتو) رادیو راموثر ترین وکلان ترین وسیله بنمائیم .

گفتم یکی از زمینه هائی که رادیو درتعمیم و استفاده از ان تاثیر محسوسی نموده موسیقی ملی است زیرا برای نخستین بارما توانستیم موسیقی ملی خود را که اصیل ترین نمایندهٔ ذوق بدیع و هیجانات ملی ما است ذریعهٔ رادیو جسته جسته جمع وانتشار بدهیم و این انتشارات بحدی مؤثر است که من شخصاً تاثیرات آن رادیدم وشایدهمه دیده باشند چه دراوقاتیکه آهنگ موسیقی ملی بلند می شود ونغمات سامعه نواز آن در فضا منعکس میگردد اطراف وجوانب گوشك عمومی رادیو در حصص مختلف شهر بحدی مملواز ازدحام مردم می شود که بانسان وجدمی بخشد .

این هانبذی از فوائد یست که ما از رادیو انتظار برده وبآن امید خود نائل شده و خواهیم شد وازهمین جهته است که به رادیوی کابل به نظر احترام باید دید وبآن چه رادیو میگوید باید گوش داد و عمل کرد .

رادیوی کابل را طوریکه گفتم روز اول حمل ۱۳۲۰ ساعت شش ونیم ع ، ج والا حضرت سردار محمد نعیم خان معاون صدارت عظمی بذریعهٔ نطق فصیح وبلغیکه بزبان ملیح پښتوایراد نمودند افتتاح فرمودند .

والاحضرت معظم درنطق افتتاحیهٔ خود آمال های خوش آیند ومبارکی را برای آیندهٔ رادیو وتاثیرات آن درجامعه اظهار فرمودندونصب العینی را که ریاست مطبوعات وخود والاحضرت شان از رادیو انتظار میبرند بیان فرمودند وامید واریم همان طوریکه والاحضرت افخم اظهار امید کردند این رادیو درزیر سایهٔ همایونی اعلیحضرت معظم محمدظاهرشاه برای نسل جوان وجدید افغان مصدر فوائد ومحاسن بی شماری گردد .

مابه نوبهٔ خود افتتاح وجریان مرتب رادیوی کابل را به ریاست محترم مطبوعات وسائر جوانانیکه درین خدمت ملی قدم وقلم میزنند تبریك گفته از خدای متعال آرزو داریم موفق شوند تارادیوی کابل راخادم افکاروآمال طبقهٔ فاضلهٔ مملکت قرارداده به این وسیله بتوانندخدماتی راکه ذات مبارك شاهانه ووالاحضرت معاونصاحب ازهمچو مؤسسات عرفانی انتظارمیبرندانجام بدهند وضمناً ازجوانان وفضلای مملکت انتظاربرده می شود تابااین مؤسسهٔ ملی خود ازابرازهیچ گونه خدمت وحتی فدا کاری خودداری ننمایند.

روز نامهٔ انیس ، جریدهٔ اتفاق اسلام ، جریدهٔ بیدار ومجلهٔ پښتون زغ

روزنامهٔ انیس : روزنامهٔ انیس ازمهمترین وبهترین مطبوعات مرکز است ودرظرف ۱٤ سال که از عمر این نامه میگذرد درجامعه مصدر خدمات گران قیمتی شده است. وانصافاً باید گفت که این روز نامه درین اواخرهم ازحیث محتویات وهم ازجنبهٔ حسن طباعت وسلیقهٔ که دران بکاربرده می شودمیتواند باروز نامه های مهمهٔ دنیا برابری کند واین است که این روزنامه باهمین عظمت مقام معنوی خود اخیراً درین روزها وارد سال ۱۵ گردیده بما حق میدهد به همکار دانشمند خود بناغلی لطیفی ازموفقیت های شان تبریك گفته برای شان طلب موفقیت زیاده تری نمائیم .

جریدهٔ اتفاق اسلام : باتاسیس ریاست مطبوعات نهضت نوینی درمطبوعات مملکت آغازشد که اینك یکی ازان نهضت ها انتشار هفتهٔ دو بار جریدهٔ اتفاق اسلام هرات است که سابقاً هفتهٔ یك مرتبه نشرمیشد؛ مااین مرحلهٔ جدیدرا به هم کار فاضل خود بناغلی صدیقی تبریك واز خداوند تعالی تمنای موفقیت ایشان رامینمائیم .

جریدهٔ بیدار: جریدهٔ بیداردرظرف ۱۹ سال دربیداری مملکت خدمت خوبی نموده اخیراً بروز ٤ حمل وارد مرحلهٔ ۲۰ زندگانی مطبوعاتی گردیده مااین مرحلهٔ نورا به هم پیشهٔ فاضل خود بناغلی عبدالصمد خان جاهد تبریك گفته چشم داریم زیاده تر در بیداری اولاد این وطن بذل همت فرمایند .

مجلهٔ پښتون زغ : این مجله که ناشر مرام وپروگرام های رادیوی کابل است توام با افتتاح رادیو روز اول حمل ۱۳۲۰ باقطع کوچك وزیبا وحاوی مضامین دل چسپ انتشار یافته بعدازین هر ۱۵ روزیکبار نشرمی شودماطلوع این ستارهٔ جدیدرا درافق مطبوعات مملکت بانگاه امید واری نگریسته بادارهٔ نشریات رادیو تبریك میگوئیم .

رجب خان او د پښتو کورس



رجب خان :- زما پشتو یادنه دی ، په کدام کورس پشتو یادکم ؟

کوندل : په ریاست مطبوعات کښې اوس د پښتو کورس نوی جاری شوی دی !...

مه حرام خور نیستم

رجب خان: اوای نهاله چندخریدی ؟

عجب خان :- استا گپ برن که مه ای نهاله از باغ دوزی کدیم که باغوان خبرنشه !

رجب خان :- اگه میفروشی میخرمش

عجب خان :- برو پیسه تو حرام اس مه حرام خور نیستم .

کندل خان و رجب خان

کندل خان :- رجب خان چرالب ورویت کشال است مثلیکه روغن دستگیریت نه کده ؟

رجب خان :- نی دستگیری کده مگم چربوو کچالو داره.

د رجب خان گله ؟

عجب خان :- رجب خان وروره! ولی دی رنگ داسی الوتی دی ؛ اوخوابدی ئي ؟

رجب خان :- ولی به نه یم خوابدی ، تولو خلقو چه پنخوس مقالي لیکلی وی، د ریاست مطبوعات خخه ئي . انعام واخیست ؛ اوماغریب شکل چه سل واره په انیس اونورو مجلو کښ راوتلی، هیڅوك انعام نه را کوی ! !

عبدالرزاق (زده‌ور) داولی اعدادی متعلم حبیبیه

رجب خان ورفیق او

رجب خان :- اوبرادر چرانمامت گل‌ولای پرشده؟

رفیق اوبجواب :-ازوکوچه تیر می‌شدم ازیك خانه خاك جارو سرم ریخت واز دگه خانه او کالا شوئی را سرم چپه کدن ازو خاطر کالایم چتل شده

رجب خان :- بروخوب شد یکیش چتل ودگیش ششتیت .

یك ساعت ورزش دماغی



این معمایك بیت بسیار نفیس فارسی است که یکی ازموسیقی نوازان سرائیده وبیکی از ریکارد هاضبط شده چیز مهمی که در داخل آن باید در نظر گرفته شود تعقیب تیر هاست الفی که بزیر آن دوخط کشیده شده ویای که بالای آن رقم ۲ گذاشته شده اهمیت دارد .

اعلان

پښتو ټولنه وټولو ښاغلو هموطنانو ته اطلاع ورکوی، چه لاندینی موادکه د هرچا سره وی پښتو ټولنه ئې سره له ډېری (کورودانۍ) د حق الزحمې په مقابل کښې قبلوی:

۱:- د پښتو د پخوانیو شاعرانو سوانح او د هغو قلمی او شعری آثار (په تېره بیا هغه چه اوس ئې نوم ورک دی)

۲:- د پښتو لنډۍ او ملی ترانې.

۳:- د پښتو قصې او روایتونه.

۴:- د پښتو متلونه.

۵:- د پښتو نادر لغتونه په مقابل کښې د هغو لغتو چه نن په پارسی یا عربی مستعمل دی.